

# په کلاسیکه دوره کې پښتو ادبي مکتبونه

څېړنپوه عبدالشکور قیومي

په کلاسیکه دوره کې پښتو ادبي مکتبونه
څېړنپوه عبدالشکور قیومي
۱۳۹۹ هـ . ش




# Pashto Literary Schools in Classic Era

Professor Abdul Shukoor Qayumi

2021
ISBN 978-9936-661-19-6

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري عـــــلومو معـاونیت

د پښتو څېړنو بین المللي مـــرکز

د پښتو څېړنو انستیتوت

# په کلاسیکه دوره کې پښتو ادبي مکتبونه

څېړنپوه عبدالشکور قیومي

۱۳۹۹ هـ . ش

**د کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:** په کلاسیکه دوره کې پښتو ادبي مکتبونه (په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخي پرمختیایي بهیر څېړنه)

**لیکوال:** څېړنپوه عبدالشکور قیومي

**لارښـود استـاد:** څېړنپوه نعمت الله اندړ

**ایډیټور:** څېړندوی عبدالرحمان حبیب زوی

**مهتمم:** څېړندوی حبیب زوی

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**چاپ کال:** ۱۳۹۹ هـ . ش / ۲۰۲۱م

**چاپ شمیر:** ۵۰۰ ټوکه

**چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل افغانستان

**ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٦۱-۱۹-٦

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د لاربنود استاد نظر / څېړنپوه نعمت الله اندړ ........................................ أ
تقریظ / څېړنپوه نصرالله ناصر ........................................ ه
تقریظ / څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي ........................................ ح
تقریظ/ پوهاند محمد اسماعیل یون ........................................ ل
تقریظ/ پوهاند جمشید رشیدي ........................................ س
سریزه ........................................ ۱

**لومړی څپرکی**

**د موضوع شالید** ........................................ ۵

**دوهم څپرکی**

**د ادبي مکتب پېژندنه** ........................................ ۲۱
ادبي مکتب څه ته وايي؟ ........................................ ۲۱
د ادبي مکتب او ادبي سبک توپیرونه ........................................ ۲۵
د ادبي مکتب د جوړښت او پایښت مسأله ........................................ ۲۶
د پښتو ادب د کلاسیکې دورې پېژندنه ........................................ ۲۸

**درېیم څپرکی**

**روښاني ادبي مکتب** ........................................ ۳۱
بایزید روښان د روښاني مکتب بنسټګر ........................................ ۳۵
د روښاني عرفاني- ادبي مکتب ځانګړنې ........................................ ۳۸
د روښاني ادبي مکتب پیروان ........................................ ۵۰
ارزاني خوېشکی ........................................ ۵۰
میرزا خان انصاري ........................................ ۶۰
واصل روښاني ........................................ ۷۱
دولت لواڼی ........................................ ۷۸
علي محمد (مخلص) ........................................ ۸۷
کریمداد بنګښ ........................................ ۹۷

## څلورم څپرکی

**د خوشحال ادبي مکتب** ............................ ۱۰۵
خوشحال د خټکو د ادبي مکتب بنسټګر ............................ ۱۱۲
د خوشحال خان د ادبي مکتب ځانګړنې ............................ ۱۱۷
د خوشحال ادبي مکتب پیروان او نومیالي استازي ............................ ۱۲۶
اشرف خان هجري ............................ ۱۲۷
عبدالقادر خان خټک ............................ ۱۳۹
د عبدالقادر خان خټک اخلاقي افکار ............................ ۱٤۷
سکندر خان خټک ............................ ۱٥٤
صدرخان خټک ............................ ۱٦٤

## پنځم څپرکی

**د رحمان بابا تصوفي- عرفاني ادبي مکتب** ............................ ۱۸۳
رحمان بابا د ادبي مکتب د بنسټګر په توګه ............................ ۱۹۱
د رحمان بابا د ادبي مکتب ځانګړنې ............................ ۱۹۲
د رحمان بابا د ادبي مکتب پیروان او استازي ............................ ۲۰٤
معزالله مومند ............................ ۲۰٥
یونس خیبری ............................ ۲۱٦
اخون ګدا ............................ ۲۲۱
حافظ الپوری ............................ ۲۲٥
مطیع الله ............................ ۲۳۹
عبدالرحیم هوتک ............................ ۲٤٦

## شپږم څپرکی

**د نازکخیالۍ ادبي مکتب** ............................ ۲٥٥
د نازکخیالۍ د ادبي مکتب ځانګړنې ............................ ۲٥۹
حمید مومند په پښتو ادب کې د نازکخیالۍ مکتب بنسټګر ............................ ۲۷۷
کاظم خان شیدا د نازکخیالۍ د مکتب بشپړوونکی ............................ ۲۸۰
د نازکخیالۍ ادبي مکتب پیروان او نومیالي استازي ............................ ۲۹۳
کامګار خټک ............................ ۲۹۳
علي خان ............................ ۲۹۸

قلندر اپریدی ........................................................................................ ۳۰٤
حنان بارکزی .......................................................................................... ۳۱۱
بېدل اشنغری ......................................................................................... ۳۱٦
محمدي صاحبزاده ................................................................................... ۳۲٤
**پایله** ..................................................................................................... ۳۳۳
**وړاندیزونه** ......................................................................................... ۳۳۷
**مأخذونه** ............................................................................................... ۳۳۸

# د لاربښود استاد نظر

پښتو ادب د تاریخ په اوږدو کې خورا لوړ او ځوړ مزل وهلی دی، چې ادب پوهانو دا مزل او بهیر د ادبي دورو په نوم یاد کړی دی. دا څېړنه چې د ښاغلي څېړنوال عبدالشکور قیومي له خو بشپړه شوې، په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخي بهیر د پرمختیایي بهیر څېړنه ده. دا ادبي دوره چې د لسمې هجري پېړۍ له نیمایي څخه پیل کېږي او د څوارلسمې پېړۍ تر لومړیو دوو یا دریو لسیزو پورې دوام مومي، په دغه دوره کې روښاني عرفاني ادبي مکتب، د خوشحال ادبي مکتب، د رحمان بابا تصوفي او عرفاني مکتب او د حمید او شیدا د نازک خیالۍ ادبي مکتب د پاملرنې وړ دي. په دغه دوره کې د څلورو ادبي مکتبونو ادبي ایجادیات څکه ډېر مهم ګڼل کېږي چې د روښاني عرفاني ادبي مکتب هڅې د پښتو د ادبي مکتبونو پیلامه ګڼل کېږي او وروسته نورو ادبي مکتبونو دا لړۍ نوره هم پیاوړې کړې ده.

د پښتو ادب د منځنۍ یا دوهمې دورې د ادبي مکتبونو د تاریخي بهیر د پرمختیایي بهیر څېړنه چې د همدغې اړتیا له مخې چې د دغې دورې ادبي جریانونه او ادبي مکتبونه په علمي او څېړنیزه بڼه سره وسپړل شي او د پښتو ادب د یو جامع ادبي تاریخ لپاره د غوره موادو په توګه ورڅخه کار واخیستل شي، چې دا کار له نیکه مرغه څېړنوال عبدالشکور قیومي ترسره کړی. د موضوع سره د تړاو له مخې اړینه ده چې لومړی د سبک او ادبي مکتب په اړه لږ څه معلومات وړاندې کړو.

سبک د کلماتو هغه ترتیب ته وایي چې د لیکونکي یا ویونکي ذهني مفکوره عیناً تمثیل کړي که څه هم د دغې موخې لاسته راوړل ګران کار دی، مګر لیکونکی زیار باسي چې دغې موخې ته ځان ورسوي.

سبک عربي کلمه ده چې معنا او مفهوم یې د سرو او سپینو زرو ویلي کول او په قالب کې اچول دي، او په ادبي اصطلاح سبک د یو شاعر او لیکوال د وینا او لیکنې لارې، اسلوب او روش ته وایي.

د مکتب لغوي معنا لیکنځی، د زده کړې او د ښوونې ځای او په ادبي اصطلاح هغه پراخ ادبي جریان او لاره ده چې د زیات شمېر ادیبانو(شاعرانو او لیکوالو) د سبکونو له ګډون څخه منځته راغلی وي. ځینې ادبپوهان یې په تشریحي ډول داسې تعریف کوي: ادبي مکتب د هغو نظریو ادبي او فرهنګي ځانګړنو مجموعه ده چې د یو یا څو هېوادونو د فرهنګي، ټولنیزې او سیاسي اوضاع په بهیر کې رامنځته کېږي. دغه ځانګړنې معمولاً د

ليکوالو او شاعرانو د يوې ډلې په آثارو کې سره ګډې او مشترکې وي او د نورو شاعرانو او ليکوالو له تخليقي آثارو څخه بېلوالی لري لکه ادبي فنون چې د شعر د ښکلا او معنا او مفهوم د پرانيستلو کيلي ګڼل کېږي، په همدغه توګه سبک او ادبي مکتب هم د يو شاعر يا د يوې ډلې شاعرانو د جهان بينۍ، ارمانونو او هيلو پيغام د هغوی د ادبي اظهاراتو او مظاهرو له مخې پېژندلای شو د بېلګې په توګه:

پــــه ابـــاو پــــه اجــــداد خـــان و سردار يــــم
کارنـــــــامې لـــــــرم د جنــــــګ او د جـــــــدال
يـــو پرهـــار بـــه مـــې لا روغ پـــه وجـــود نـــه و
بـــل پرهـــار مـــې بـــه پـــه تـــن شـــو يـــا پـــه ډال

***

هغـــــه زړه بـــــه لـــــه طوفانـــــه پـــــه امــــان وي
چـــې کښـــتۍ غونـــدې د خلکـــو بـــار بـــردار شي
کـــه بـــل بـــد کانـــدي تـــه ښـــه ورسره وکـــړه
هـــر يـــو نخـــل چـــې ميـــوه لـــري سنګســـار شي

***

خط پر مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې
دا يې غاښ په خوله کې زيب کا که ژاله شوه په لاله کې
دا زما له غمه شين زړه په کې خيال د يار د شونډو
هسې رنګ زيب و زينت کا لکه مې په شنه پياله کې

د ادب او فرهنګ د ډګر مينه وال په ډېره آسانۍ سره پوهېږي چې لومړی شعر د خوشحال بابا، دوهم شعر د رحمان بابا او دريم شعر د حميد ماشوخېل دی، دغه پوهېدنه او اسانتيا پرته د دې چې د دغو نامتو شاعرانو غټ غټ دېوانونه وپلټو، موږ ورباندې پوهېږو، خامخا به ځواب دا وي چې موږ د هغوی د سبک او ادبي مکتب د ځانګړنو له مخې دا اټکل وکړ چې هغه هم سم او صحيح دی.

په همدغه ترتيب سره د ادبي مکتب د ځانګړنو او د ټولنيزو او سياسي حالاتو په رڼا کې د هغو تحليل او سپړنه موږ د خپل ادبي تاريخ او فرهنګ په بېلابېلو رمزو او رازونو خبروي او د هغوی په رڼا کې خپله ټولنه او خپل فرهنګ په ښه ښه پېژندلای شو.

دا څېړنيزه پروژه چې د ښاغلي څېړنوال عبدالشکور قيومي له خوا په شپږو څپرکو کې بشپړه شوې په ترتيب سره: لومړی څپرکی د موضوع شاليد او په دغه اړه د تيرو ادبي

کړنو جاج په کې اخیستل شوی دی.

دوهم څپرکی یې د ادبي مکتب پېژندنې ته ځانگړی شوی چې د ابي سبک او ادبي مکتب د توپیر په ښودلو برسېره د ادبي مکتب د جوړښت او پایښت مسأله هم په کې په تفصیل سره څېړل شوې او د کلاسیکې دورې په اړه هم خورا گټوره څېړنه سرته په کې رسېدلې ده.

دریم څپرکی د روښاني ادبي مکتب په اړه چې د پیرروښان یا د دغه مکتب د بنسټگر د ژوند او د هغه د پیروانو په آثارو او افکارو باندې په بشپړه توگه رڼا اچوله شوې او په تولیزه توگه د دې دورې د شاعرانو د اشعارو هغه ځانگړنې په گوته شوي چې د روښان د نظریاتو تر ژورې اغېزې لاندې ویل شوي، په خورا تفصیل سره یې څېړنه ترسره شوې ده.

څلورم څپرکی د خوشحال خان د ادبي مکتب ځانگړنو ته ځانگړی شوی، د خوشحال خان د ژوند، آثارو او فکارو او د دغه ادبي مکتب د مخکښو پیروانو لکه اشرف خان هجري، عبدالقادرخان ختک او سکندر خان ختک پر ژوند او آثارو هر اړخیزه څېړنه شوې او په تولیزه توگه د پښتو ادب د ادبي مکتبونو په پرمختیایي بهیر کې د دغې کورنۍ د ونډې په اړه علمي څېړنه سرته رسېدلې ده.

پنځم څپرکی د رحمن بابا عرفاني ادبي مکتب ته ځانگړی شوی، د دغه ادبي مکتب په اړه د پوهانو نظرونه، ورپسې د رحمان بابا عرفاني سبک په هر اړخیز ډول سپړل شوی او د دغه سبک د پیروانو او لارویانو پر افکارو او آثارو هم په تفصیل سره خبرې شوي دي.

شپږم څپرکی یې د نازک خیالۍ ادبي مکتب ته ځانگړی شوی او د دغه ادبي مکتب د ایجاد او رامنځته کېدو پر څرنگوالي برسېره د دغه ادبي مکتب د بنسټگر حمید بابا پر افکارو او آثارو باندې علمي څېړنه ترسره شوې، د دغه مکتب د نورو تکړه پیروانو او همدارنگه د دغه ادبي مکتب د بشپړونکي کاظم خان شیدا د ژوند، آثارو او اشعارو په اړه خورا گټورې خبرې لرې او د دوی آثارو د ادبي مکتب د ځانگړنو په رڼا کې په تفصیل سره سپړل شوي دي. پایله، گټور وړاندیزونه او د (۱۲۳) علمي معتبرو آثارو او سرچینو څخه په گټې اخیستلو سره دا علمي- څېړنیزه پروژه پای ته رسېدلې ده. چې دا څو یادونې هم د یاملرنې وړ دي.

-ښاغلي څېړنوال عبدالشکور قیومي ته چې د کار په بهیر کې کومه سپارښتنه شوې، هغه یې په پام کې نیولې ده.

- لیکوال د ادبي سبک او ادبي مکتب د سرلاریو، نامتو پلویانو پر ژوند، افکارو او

آثارو چې کوم وخت څېړنه کوي هغه یې د تذکره لیکنې له تش حالت څخه راایستلې، د شاعر د فکري هماهنګۍ په رڼا کې د اشعارو پرتله ترسره کړې ده، چې دا کار د پروژې علمي او نوښتي برخه نوره هم درنوي.

- لیکوال د مقایسوي ادبیاتو له مخې دوه شاعران د فکر د مفاهیمو د اظهار له مخې سره پرتله کوي او مهمې پایلې ته ځان رسوي چې د علمي او څېړنیزو چارو لپاره خورا ګټور کار ګڼل کېږي. ځای ځای چې په تېر وخت کې کومه تېروتنه د لیکوال له خوا رامنځته شوې هغه په خورا ادبي بڼه په ګوته کوي او د سمون په اړه یې هڅه کړې او هغه یې سمه کړې ده، دا کار پر موضوع باندې د لیکوال د لاسبرۍ په معنا او مفهوم دی.

د لارښود استاد په توګه د څېړنوال عبدالشکور قیومي دا علمي- څېړنیزه پروژه او علمي زیار چې ده ګاللی دی، که چېرته د علمي ترفیع کولو نور شرایط یې پشپړ کړي وي، نوموړی د دې وړ ګڼم چې د څېړنپوه علمي رتبې ته ترفیع وکړي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ څخه مې غوښتنه دا ده که چېرته د دغه علمي – څېړنیزې پروژې د چاپ په اړه زمینه برابره شي، هیله لرم چې د چاپ په اړه لاس په کار شي، تر څو نوي څېړونکي او محصلان ورڅخه ګټه پورته کړي. لیکوال ته د دا ډول نورو فرهنګي ایجاداتو په رامنځته کولو کې د لوی خدای (ج) له دربار څخه د لا نورو بریاوو په هیله.

په درناوي

څېړنپوه نعمت الله اندړ

د فولکلور د څانګې علمي غړی

# تقریظ

د افغانستان د علومو اکادمي د ریاست د تحریراتو د څانګې د ۱۳۹۷/۲/۲۲ نېټې د (۲۵۱/۲۴۸) ګڼه لیک په ملتیا د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز د علمي غړي ښاغلي څېړنوال عبدالشکور قیومي علمي- څېړنیز اثر چې «په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخي بهیر پرمختیایي څېړنه» تر سرلیک لاندې یې د څېړنپوه علمي رتبې ته د ترفیع لپاره کښلی دی، ما ته د تقریظ لیکلو لپاره راسپارل شوی دی.

د مخه تر دې چې د دې اثر د جوړښت، منځپانګې، څرنګوالي او څومره والي په اړه څه ووایم، غواړم چې د سبک او مکتب په اړه د څو لنډو ټکو یادونه وکړم.

لکه څنګه چې څرګنده ده په تېرو وختونو کې کله کله سبک او مکتب د یو بل پر ځای کارول کېدل، خو له نیکه مرغه اوس تر ډېره بریده دا ستونزه له منځه تللې او هر یو په خپل ځای استعمالېږي.

سبک له آره عربي کلمه ده چې په حقیقي معنا د سرو او سپینو زرو د ویلې کولو او په قالب کې تویولو په معنا دی او سیکه د سپینو زرو ویلې شوې ټوټې ته ویل کېږي.

د عربي سبک په وړاندې اروپایان د سټایل (style) کلمه کاروي او ویل کېږي چې سټایل د سبک په نسبت جامع دی. سبک د یوه تن د لیکلو طرز څرګندوي او که په لنډه توګه ووایو سبک په خپله شخص دی، ځکه هر څوک ځانته د خبرو، لیکلو، تګ او..سبک لري، خو کله چې بېلابېل ورته سبکونه سره یو ځای شي په نتیجه کې یې مکتب رامنځ ته کېږي.

ادبي مکتبونو نه یواځې د خپل ایجاد او رامنځ ته کېدو پر مهال ، بلکې له هغه وروسته هم پیروان او لارویان لرلای شي.

لکه څنګه چې ټولو ته جوته ده سبک د یوه تن د لیکلو طرز دی، نو ځکه باید هیڅکله هم سبک او مکتب سره ګډ نه شي او همدارنګه یو د بل په عوض ونه کارول شي، ځکه چې سبک خپلې ځانګړنې لري او مکتب خپلې. د مکتب مفهوم پراخ او د سبکونو ټولګه ورته ویلای شو، خو سبک فردي دی.

څرنګه چې د دې اثر ښاغلي لیکوال دغه موضوع په تفصیل سره څېړلې، د سبک او مکتب په توپیرونو غږېدلی دی، د هغوی د ایجاد شرایط یې هم څېړلي دي، نو ځکه په همدې لنډه یادونه بسنه کوم او راځم د اثر جوړښت ته.

دغه اثر سریزه، شپږ څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د مأخذونو فهرست لري. لیکوال

په سریزه کې له معمول سره سم د موضوع پر مبرمیت او اړتیا خبرې کړې او د دې ترڅنګ یې د خپل کار میتود معرفي کړی دی، چې تشریحي، توضیحي، پرتلیز او انتقادي دی.

د اثر لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانګړنی شوی دی. د موضوع پر شالید له بحث نه وروسته هغه مهم آثار لنډ لنډ معرفي شوي چې د دې اثر په بشپړولو کې ترې په یوه نه یوه بڼه استفاده شوې ده. البته دا یوه تشه معرفي نه ده، بلکې لیکوال پر هر اثر بحث او خبرې کړې او که کره کتنې ته اړتیا پېښه شوې، دا کار یې هم کړی دی.

د دې لپاره چې پر ادبي مکتبونو د بحث لپاره زمینه برابره شي، لیکوال په دوهم څپرکي کې پر ادبي مکتب، د هغه پر جوړښت او رامنځ ته کېدو مناسب بحث کړی، د سبک او مکتب توپیرونو ته یې نغوته کړې او د راتلونکو څپرکو څېړنې ته یې لار خلاصه کړې ده.

د دې اثر دریم څپرکی د روښاني ادبي مکتب پېژندنې ته ځانګړی شوی، د دې مکتب پر خصوصیاتو یې خبرې کړي او ورپسې یې د دې ادبي مکتب پیروان معرفي او د دوی پر آثارو یې ژور بحثونه کړي دي.

څلورم څپرکی د خوشحال خان ختک د ادبي مکتب پېژندنې ته ځانګړی شوی دی. لیکوال د دې ادبي مکتب د خصوصیاتو په څېړنه او رابرسېرونه سربېره د دې ادبي مکتب پیروان هم معرفي کړي او د هغوی پر آثارو یې تحلیلي بحثونه کړي دي.

په پنځم څپرکي کې د رحمان بابا تصوفي – عرفاني ادبي مکتب راپېژني. د دې مکتب پر ځانګړنو د بحث په ترڅ کې د هغه پیروان هم معرفي کوي او پر آثارو یې هر اړخیزه رڼا اچوي. د دې اثر شپږم او وروستی څپرکی په پښتو کې د هندي ادبي مکتب یا د نازکخیالۍ ادبي مکتب په رامنځ ته کېدو او خصوصیاتو باندې ګټور بحثونه لري، د دې مکتب د مخکښو پر ادبي آثارو سربېره یې د هغه د پیروانو پر آثارو هم لازمي خبرې کړي او د پیروانو د پېژندنې په ترڅ کې یې د هغوی د کلام بېلګې راوړي او تحلیلي بحث یې وړاندې کړی دی.

د شپږم څپرکي په بشپړېدو سره لیکوال ځان پایلې ته رسولی او د خپلې دغې څېړنې نتایج یې وړاندې کړي او ورپسې یې له موضوع سره په تړاو وړاندیزونه هم کړي دي.

دغه اثر چې په( ) A٤ مخونو کې لیکل شوی په بشپړولو کې یې له( ) مأخذونو څخه استفاده شوې ده، لیکوال یې په کښلو کې پوره کړاو په ځان منلی دی. د پورته یادونو په پای کې خپل نظر داسې راړاندېوم:

- لیکوال د دې اثر په بشپړولو کې منل شوي معیارونه په پام کې نیولي او د لیکنې

ژبه یې روانه ده.

- د پېچلو او کږکېچنو جملو او وییونو له کارولو څخه یې ډډه کړې ده.

- لیکوال هڅه کړې چې د سیمه ییزې لهجې له اغېزو ځان وژغوري او د لهجې پر ځای یې معیار ته ترجیح ورکړې ده.

- تر ډېره بریده یې د لیکوالۍ ټاکلي موازین او معیارونه مراعات کړي او لیک نښې یې په دقت سره کارولي دي.

- لیکوال له حشوو او زوایدو څخه ځان ژغورلی او هڅه یې کړې چې په سیده توګه ځان آرې موخې ته ورسوي.

- د مأخذ ښودنې روش یې هم په متن او هم د اثر په پای کې لکه څنګه چې ښایي هغسې تنظیم او مراعات کړی دی.

لنډه دا چې د دې اثر په بشپړولو کې د لیکوال هلې ځلې د ستاینې وړ دي، ځکه چې تر ډېره بریده یې هڅه کړې چې د لیکوالۍ او څېړنې ټاکلي آرونه له پامه ونه غورځوي، همدارنګه یې د څېړنې په بهیر کې له اضافي تبصرو ډډه کړې او د اصلي مطالبو څېړلو ته یې ترجیح ورکړې ده.

زه د دې علمي- څېړنیز اثر په بشپړولو کې د ښاغلي قیومي هڅه او هاند ستایم، که چېرې یې د علمي ترفیع نور اړوند شرطونه بشپړ کړي وي، نو د څېړنوال له علمي رتبې څخه یې د څېړنپوه علمي رتبې ته د ترفیع وړ ګڼم او په نورو څېړنیزو او فرهنګي چارو کې ورته د څښتن تعالی له درباره د لا زیاتو بریالیبتونو غوښتنه کوم.

د دې ټولو خبرو په پای کې ښاغلي لیکوال او د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز محترم ریاست ته دوه وړاندیزونه لرم:

۱- د اثر سرلیک چې د وخت د محترم رئیسه هیأت له خوا تائید او تصویب شوی دی په دې ډول دی: « په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخي بهیر پرمختیایي څېړنه» که داسې تعدیل شي غوره به وي: «په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخي پرمختیایي بهیر څېړنه».

۲- د دریم، څلورم، پنځم او شپږم څپرکي په ځینو سرلیکونو کې د«پلویان» کلمه راغلې ده چې د تأمل وړ برېښي، زما وړاندیز دا دی چې دغه کلمه دې په«پیروان» واوړي، ځکه چې پلویان طرفدارانو او ملاتړو ته وایي او پیروان لارویانو ته وایي.

څېړنپوه نصرالله ناصر

د پښتو ژبې او ادبیاتو د انستیتوت غړی ۱۳۹۷/۵/۱

# تقریظ

د پښتو څېړنو بین المللي مرکز محترم ریاست ته!

«په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخي بهیر پرمختیایي څېړنه» علمي څېړنیزه پروژه چې ښاغلي څېړنوال عبدالشکور قیومي د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړاوي لپاره د ښاغلي څېړنپوه نعمت الله اندړ په لارښوونه په شپږو څپرکو د A٤ سایز کاغذ په () مخونو کې له ۱۲۳ اخځلیکونو او سرچینو څخه په استفاده لیکلې او د ۲/۲۲/ ۱۳۹۷ نېټې (۲۵۲/۲۴۶) ګڼه لیک په ملتیا مو د کتنې او د ارزونکي نظر لپاره ماته رالېږلې وه، د منځپانګې او شکلي جوړښت له هر اړخیزې کتنې وروسته دا دی خپل ارزونکی نظر څرګندوم:

د ادبپوهنې په موضوعي وېش کې د ادبي مکتب د جوړښت او پایښت، ودې او پرمختیا مسأله په ادبي تیورۍ پورې اړه لري. ادبي مکتب هغه پراخ ادبي جریان او لاره ده چې د زیات شمېر ادیبانو (شاعرانو او لیکوالو) د سبکونو له ګډون څخه مینځته راغلی وي. یا ادبي مکتب د هغو نظریو، ادبی او فرهنګي ځانګړنو مجموعه ده چې د یو یا څو هېوادونو د فرهنګي، ټولنیزې او سیاسي اوضاع په بهیر کې رامنځته شوې وي.

د یادونې وړ ده چې دغه ځانګړنې معمولاً د ادیبانو د یوې ډلې په آثارو کې سره ګډې او مشترکې وي او د نورو شاعرانو او لیکوالانو له تخلیقي آثارو څخه د توپیر او بېلتون لامل ګرځي. همدغه ځانګړنې یا خصوصیات چې کله ادبپوهانو او ادبي کره کتونکو په نخښه کړي او هغه یې د یو ادبي جریان د بنسټیزو اصولو په توګه ښودلي، په هماغه وخت یا دوره یا په راوروستیو وختونو کې نورو لیکوالو او شاعرانو د دغو اصولو پیروي کړې او د هغو پر بنسټ یې خپل ادبي آثار پنځولي دي او دغسې دغه ادبي لاره د یوې لنډې یا اوږدې مودې لپاره ساتل شوې او پالل شوې، چې اوس موږ هغه ته د «ادبي جریان» یا مکتب نوم ورکوو.

ځینې وګړي ادبي سبک، ادبي مکتب او ادبي میتود سره ګډوي او په یوه مفهوم یې تعبیروي، حال دا چې یو له بېلابېل او ځانګړي ادبي اصطلاحات دي. په ادب کې هم په جلا معنا او مفهوم کارېږي، خو یو له بله نږدې اړیکې لري. تر کومه چې خبره په پښتو ژبه او ادب کې په ادبي مکتب پورې اړه لري، موږ د ادبي تاریخ په لومړۍ یا لرغونې دوره کې د لاسته راغلو ادبي آثارو د کمښت له امله چې د ګوتو په شمې لیکوالان او د هغوی د ګوتو په شمې د نظم او نثر بېلګې لرو چې پرې د ګوم ځانګړي ادبي بهیر یا جریان حکم نه شو کولی، خو په راوروسته منځنۍ (دوهمه یا کلاسیکه) ادبي دوره کې چې پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا پړاوونه وهلي څلور ستر ادبي جریانونه رامنځ ته شوي چې ادبپوهانو هغو ته د ادبي مکتبونو نوم ورکړی او د دغه دورې ادیبان او د هغوی پنځولي ادبیات د همدغو پراخو ادبي جریانونو (ادبي مکتبونو) په حدودو کې مطالعه کوي.

د پښتو څېړنو بين المللي مرکز د دغې موضوع څېړنه او سپړنه د يوې علمي څېړنيزې پروژې په بڼه ښاغلي قيومي ته سپارلې چې څېړنپوه علمي پوړ ته د لوړاوي لپاره يې د ښاغلي څېړنپوه نعمت الله اندړ په لارښوونه بشپړه کړې. نوموړي د ټاکليو مفرداتو له مخې په دې ترتيب ترسره کړې او د دفاع تر پړاوه رارسولې ده.

په لومړي څپرکي کې له معمول سره سم د موضوع پر شالید بحث شوی او پر هغو آثارو ، ليکنو او څېړنو کره کتنه شوې چې د اړوندې موضوع په اړه تر دې څېړنې د مخه شوي، څېړونکي پر هغو باندې د خپلې څېړنې پوره توب او کره توب زيات کړی دی. دوهم څپرکی د څېړنيزې موضوع لپاره د پيلامې په توګه تعارفي بڼه لري، چې په کې د ادبي مکتب، سبک پېژندنې په ترڅ کې د دواړو توپيرونه په ګوته شوي، د ادبي مکتب د جوړښت او پاېښت مسأله سپړل شوي او د پښتو ادب کلاسيکې (دوهمه يا منځنۍ) دوره چې همدا څلور ادبي مکتبونه يې په بېلابېلو پړاوونو کې رامنځ ته شوي، په مناسب تفصيل سره پېژندل شوې دي. دريم څپرکی د روښاني ادبي مکتب د پېژندنې موضوع ته ځانګړی شوی، چې لومړی د دې ادبي مکتب بنسټګر ( بايزيد روښان) راپېژني، بيا يې تصوفي- عرفاني ادبي مکتب له خپلو ځانګړنو سره راپېژندلی او وروسته يې په ترتيب سره د دې ادبي ښوونځي پيروان او پلويان معرفي کړي، د هغو په ادبي پنځونو کې يې د دغه ادبي مکتب ځانګړنې پلټلي او دا يې جوته کړې چې د دې مکتب هر پلوی او پيرو په کوم ترتيب او تر کومې کچې د دې مکتب موخې ځانګړنې پلټلي او دا يې جوته کړې چې د دې مکتب هر پلوي او پيرو په کوم ترتيب او تر کومې کچې د دې مکتب موخې او اهداف بيان کړې دي. څلورم څپرکي کې د خوشحال ادبي مکتب راپېژني. لومړی په تفصيل سره د دې ادبي مکتب د بنسټګر د ژوند او ادبي آثارو، افکارو او پر هغو حالاتو، چې د دې ادبي ښوونځي د پيدايښت يا جوړښت او پايښت لارې چارې يې برابرې کړې، مفصله رڼا اچولې، وروسته يې تر يو ځانګړي سرليک لاندې د دې مکتب سترې او مهمې ځانګړنې ښودلې او په پای کې يې ځينې پلويان او پيروان راپېژني او د هغو په پنځولو آثارو کې يې د اړوند مکتب ځينې هغه عامې او خاصې ځانګړنې چې ورڅخه د دوی پلويتوب زباتېږي، د بېلګو په توګه وړاندې کوي.

پنځم څپرکی د رحمان بابا د تصوفي او عرفاني مکتب پېژندنې موضوع ته ځانګړی شوی، چې هم د دې مکتب بنسټګر او هم هغه زماني حالات او شرايط راپېژني چې دغه ادبي ښوونځی په کې رامنځ ته، د ودې او پرمختيا لارې چارې ورته برابرې شوي. تر ځانګړي سرليک لاندې يې ځينې داسې خاصې او عامې ځانګړنې معرفي کړې چې دا ښوونځی له نورو توپيروي او په پای کې يې د دې مکتب د ځينو نوميالیو پلويانو او پيروانو د پېژندنې تر څنګ د هغوی په پنځولي ادب کې داسې بېلګې ښودلې چې ورڅخه د دوی له دغه ادبي مکتب نه

پیروي او پلوي ډېره ښه څرګندېږي.

د پروژې شپږم او وروستي څپرکي کې د نازکخیالۍ ادبي مکتب معرفي شوی دی. لومړی د دې مکتب ځینې ډېر عامې او خاصې ځانګړنې ښودل شوي، ورپسې دا موضوع روښانه شوې چې دغه پراخه ادبي لاره په پښتو ادب کې څنګه د هندي ادبي مکتب په لړ یا ډېرې اغېزمنۍ سره منځ ته راغی، لومړنی بنسټګر یې د پښتو نازکخیال شاعر حمید مومند او بشپړونکی یې کاظم خان شیدا دی، د دوی دواړو د منظومو ادبي پنځونو داسې بېلګې یې وړاندې کړي چې ورځخه د دې مکتب جوړښت، پایښت، ودې او پرمختیایي بهیر څرنګوالی معلومېږي. په پای کې یې ځینې نومیالي استازي راپېژني او د هغو له پنځولي ادب څخه داسې غوره بېلګې رااخلي چې له دې مکتب څخه د دوی پیروي او په کې غړیتوب او د هغې د پایښت او دوام لپاره هلې ځلې او بریالۍ هڅې ډېرې ښې زباتېږي. په پایله، وړاندیزونو او اخځلیکونو دغه څېړنه پای ته رسېږي.

لکه چې څرګنده ده په یو ځانګړي زماني مقطع کې چې د یوې ژبې ادبیات د پختابه پړاو ته رسېږي او بیا په کې کوم ادبي خوځښت، جریان او یا ادبي مکتب رامنځ ته کېږي. د پایښت، ودې او پرمختیا لارې چارې یې برابرېږي. یو پېچلی معنوي فرهنګي بهیر دی چې د ادبیاتو په تاریخ کې یې څېړنه او سپړنه هم یو ستونزمن کار دی او له هره اړخه غور او دقت غواړي، له ښه مرغه چې منځنۍ یا کلاسیکه ادبي دوره زموږ د ادبیاتو په تاریخ کې داسې زرینه دوره ده چې پښتو ژبې او ادب ته په کې د ودې او پرمختیا ټول شرایط ښه برابر شوي. د ادب د ودې او پرمختیا چټک بهیر د پښتنو په محدود جغرافیاي قلمرو په فرهنګي ډګر کې په لنډ زماني واټن کې د څلورو بېلابېلو ادبي جریانونو او خوځښتونو یو په بل پسې رامنځ ته کېدو لامل شوي چې اوس موږ هغه د همدې یوې ادبي دورې بېلابېلو پړاوونو ته منسوب ادبي مکتبونه بولو چې د ادبي مؤرخ او تاریخ لپاره یې هر اړخیزه پېژندنه  او څېړنه لازمي وه. د موضوع همدې اهمیت او مبرمیت ته په پاملرنه دغه هر ادبي ښوونځی ځانګړې څېړنه او سپړنه غوښتله، خو د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو بین المللي مرکز د خپلو څېړنیزو چارو د کړنلارې او پلان له مخې په یو ځایي توګه د دې ټولو ادبي مکتبونو څېړنه ښاغلي قیومي ته سپارلې، چې دا واقعاً ډېره درنه او ستونزمنه وه، ځکه د هر ادبي ښوونځي د ایجاد او ودې د عواملو څېړنه د ایجاد شویو ادبیاتو او د هغو د پنځوونکو د ژوند او آثارو مطالعه، له هغو څخه د دغو ادبي جریانونو د خاصو او عامو ځانګړنو او تر څنګ یې له دغو ادبي بهیرونو سره د ادبي آثارو د پنځوونکو د پلویتوب د اړیکو د زبات لپاره مناسبې بېلګې لټول، د دغو جریانونو د ګډو او توپیري پولو جوتول ډېرې پراخې مطالعې، د آثارو پرتلنې او شننې ته اړتیا لري، خو زموږ نوموړي څېړونکي ته دا ټول ورتر غاړه وو چې هغه دا دی د یوې اوږدې او هر اړخیزې

مطالعې او باوري سرچینو ته د لاس رسی له لارې د زیاتو ستونزو او کړاوونو په زغملو او له دغې درنې څېړنې، چې ګام پر ګام یې شننه او پرتلنه غوښتله، په بري سره راوتلی او خپله ترسره کړې څېړنه یې د دفاع تر درشله رارسولې، چې زه یې په دې لاره کې ترسره کړې هلې ځلې او د ستونزو او کړاوونو درانه پېټي ته اوږه ورکول، د موضوع د څېړنیز حق اداء کولو لپاره د ستاینې وړ بولم او د ترسره کړې کار په اړه یې خپل ارزونه داسې وړاندې کوم:

- سره له دې چې د څېړنې موضوع ډېره پراخه او ځانګوره وه، چې هرې برخې یې جلا پراخه څېړنه غوښتله، لیکوال د هغې هره برخه په خپلو هڅو تر جلا څېړنې وروسته په لیکنې مهارت راټوله کړې او یو عمومي څېړنیز چوکاټ ته یې ورداخله کړې ده.

- په دې څېړنیزې چارې لپاره په هره برخه کې ترسره شوې شننې(تحلیلونه) او پرتلنې د منطقي تسلسل څخه برخمنې او تر دې کچې په معیار برابرې دي چې د موضوع څېړنیز حق یې په ښه شان ادا کړی.

- اخځلیکونه او سرچینې یې باوري، په مناسبه توګه ورڅخه استفاده شوې او د اکاډمیکې څېړنې د اصولو له مخې په متن کې په ځای د اثر د شمېرې او مخګڼې له مخې په نخښه ښودل شوي او د ټولې څېړنې په پای کې له خپلو اړوندو ځانګړنو سره په الفبایي ردیف او ترتیب راغلي دي.

- د ژبې او لیکدود معیار ته یې پاملرنه کړې او لیک نخښې یې په مناسب ډول کارولي دي.

- د لیکنې ژبه یې خوږه، روانه او له هر ډول تعقید او پېچلتیا څخه ژغورلې ده.

د څېړنې دې پورته یادو ښېګڼو او ځېنو نورو ځانګړنو ته په پاملرنه زه دغه علمي څېړنیزه پروژه مثبته ارزوم، ښاغلي عبدالشکور قیومي د څېړنوال له علمي پوړ څخه د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړاوي( ترفیع ) وړ ګڼم. دوی ته د څښتن تعالی له درباه د لا بریالیتوبونو هیله او د علومو اکاډمۍ ته د دې اثر د چاپ او خپراوي سپارښتنه کوم.

په درنښت

څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي

۱۳۹۷/۲۳/۲۹

# تقريظ

څېړنوال عبدالشکور قيومي د هېواد مسلکي او حرفه يي ليکوالو او څېړونکو له جملې څخه دی. نږدې درې لسيزې کېږي چې دی په ادبي ساحه کې کار کوي، څېړنې، ليکنې او ويندويي کوي، په دې تېر بهير کې دی يو کال هم له ادبي ساحې څخه لرې نه دی پاتې شوی. د ارامو اعصابو څښتن دی، منظم او سيستماتيک کار کوي. د علومو اکاډمۍ د غړي په توګه يې په تسلسل سره خپلې علمي پوړۍ تر لاسه کړي دي. اوس يې د ( څېړنپوه) علمي رتبې يوه ضروري او علمي موضوع ثبت کړې ده. ( په کلاسيکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاريخي پرمختيايي بهير څېړنه). دا موضوع ځکه ضروري ده چې په دې برخه کې پښتو څېړنو کې کم کار شوی دی. تر اوسه لا د ادب ساحې ځوانو مينوالو ته په دې برخه کې زيات آثار نه دي ميسر شوي. ان تر دې پورې چې د ادبي مکتب او ادبي سبک ترمنځ بريدونه هم پوره نه دي مشخص شوي او د ادبياتو ځوانو مينوالو ته د دې دواړو ادبي اصطلاحاتو جوت توپير نه څرګندېږي. په دې اثر کې دغه بريدونه په ګوته شوي، ادبي مکتب تعريف شوی، د ادبي مکتب او ادبي سبک توپيرونه په ګوته شوي او د ادبي مکتب د جوړښت او پايښت مسايل څېړل شوي دي. د دې تر څنګ د پښتو ادب کلاسيکه دوره پېژندل شوې. په درېيم څپرکي کې بيا د کلاسيکې دورې لومړی ادبي ښوونځی؛ روښاني ادبي مکتب معرفي شوی، د دې مکتب بنسټګر معرفي شوی، بيا يې پلويان: ارزاني خويشکی، ميرزاخان انصاري، واصل روښاني، دولت لوانی، علي محمد مخلص، کريمداد او نور معرفي شوي دي.

څلورم څپرکي کې د خوشحال ادبي مکتب معرفي شوی. خوشحال خان خټک د دې ښوونځي د بنسټګر په توګه معرفي شوی دی. ورپسې د خوشحال ادبي ښوونځي پلويان: اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، سکندرخان خټک، صدرخان خټک او نور معرفي شوي دي.

په پنځم څپرکي کې هم يو بل ادبي ښوونځي( د رحمان بابا تصوفي – عرفان ادبي مکتب) معرفي شوی، رحمان بابا يې د بنسټګر په توګه معرفي کړی، بيا د دې ښوونځي خصوصيات په ګوته شوي دي، ورپسې د نورو څپرکو په شان د دې ښوونځي پيروان هم

معرفي شوي دي. معزالله مومند، يونس خيبری، اخوند گدا، حافظ الپوري، عبدالعظيم رانيزی، مطيع الله، عبدالرحيم هوتک او نور معرفي شوي دي او د هغوی د کلام بېلگې څېړل شوي دي.

شپږم څپرکي کې بيا يو بل ادبي ښوونځی معرفي شوی، دا ادبي ښوونځی په پښتو ادبياتو کې د حميد ادبي مکتب په نامه مشهور دی. دلته دا ښوونځی د( نازکخيالی ادبي مکتب) په نامه معرفي شوی دی. د حميد مومند پر معرفی سربېره د دې مکتب ځانگړنې په گوته شوي. پر کاظم خان شيدا سربېره د دې ښوونځي نور پيروان کامگار خټک، علي خان مامنزی، قلندر اپريدی، حنان بارکزی، بيدل اشنغری، محمدي صاحبزاده او ځينې نور معرفي شوي دي. دا اثر په باب پايله او د ليکوال يا څېړونکي خپل وړانديزونه راغلي دي چې پنځه وړانديزونه په کې شامل دي.

د دې اثر محتوياتو او څېړنو ته په کتنې سره موږ د دې اثر په باب خپل نظر داسې څرگندوو:

۱- د دې اثر موضوع مهمه، ضروري او څېړنې ته يې اړتيا وه.

۲- څېړونکي موضوع په منظم او سيستماتيک ډول څېړلې، له موضوع وتلی نه دی او پر خپلې موضوع راڅرخېدلی دی.

۳- په هر څپرکي کې ټاکل شوې موضوع ښه څېړل شوې، د وضاحت لپاره يې د همغه مکتب د پيروانو د کلام بېلگې راوړي او تحليل کړي دي.

۴- څېړونکي په پښتو ادبياتو کې د ادبي ښوونځيو په باب، نه يواځې خپله څېړنه په منظم ډول پای ته رسولې، بلکې د موضوع شاليد ته يې هم کتنه کړې او اړوند موضوعات او آثار يې په لنډيز سره معرفي کړي چې په دې برخه کې پخوا ليکل شوي لکه: خوشحال خان خټک او د ده ادبي مکتب، د بايزيد روښان عرفاني او فلسفي څېره، د ادبپوهنې ځانگې، د حميد او شمس الدين پرتليز جاج، ادبي څېړنې، پښتو ادبي مکتبونه او نور چې په دې اثر کې هم ورځخه گټه اخيستل شوې ده.

۵- لکه څنگه چې مو په پيل کې يادونه وکړه، د ادبي ښوونځي او ادبي سبک اصطلاحات هم تشريح شوي او د دواړو ترمنځ توپير هم جوت شوی دی.

۶- د اثر ژبه علمي، ساده او معیاري ده، پېچلتیا نه لري، د یوه علمي اثر لپاره چې کومه مستقیمه ژبه کارېږي، له همغې ژبې څخه کار اخیستل شوی دی.

۷- په اثر کې څېړونکی فروعاتو او څنگزنو موضوعاتو ته نه دی کښته شوی، خپلې ټاکلې موضوعگانې یې څېړلي دي. دا کار له لوستونکي سره مرسته کوي چې فکر یې پر اصلي موضوع راټول شي او له هغې څخه ښه نتیجه تر لاسه کړي.

د دې اثر د پورتنیو ځانگړنو له مخې زه ښاغلی څېړنوال عبدالشکور قیومي دا اثر یو گټور او په علمي معیارونو پوره او کره څېړنه گڼم او د افغانستان علومو اکاډمۍ ته وړاندیز کوم چې نوموړي ته د دې گټور اثر له امله د (څېړنپوه) علمي رتبه منظور کړي. زه په پای کې ښاغلي عبدالشکور قیومي ته د دې اثر له امله مبارکي وایم او د لا زیاتو بریاوو هیله ورته کوم.

په هېواد کې د علمي آثارو د لا زیاتېدا په هیله

په درنښت

پوهاند محمد اسماعیل یون

# تقريظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د بشري علومو معاونيت، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز محترم رياست ته!

ستاسو د محترم مقام د( ۲۵۰/۲۴۴ – ۱۳۹۷/۲/۲۲) ګڼه ليک له مخې چې د ښاغلي څېړنوال عبدالشکور قيومي علمي څېړنيزه پروژه مو د تقريظ لپاره رالېږلې وه، په اړه يې خپل نظر داسې وړاندې کوم:

د علومو اکاډمۍ غړي څېړنوال عبدالشکور قيومي چې کومه علمي څېړنيزه پروژه « په کلاسيکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاريخي پرمختيايي بهير څېړنه» تر سرليک لاندې د اړوندې څانګې له خوا ورکړل شوې وه، څېړونکي ياده موضوع د ليکوالۍ له اصولو سره سمه بشپړه کړې ده.

څېړنه په سريزه پيل شوې د څېړنې اړتيا، اهميت او ارزښت ته په کتو سره د موضوع شاليد باندې علمي او څېړنيز بحث شوی، کلاسيکه دوره چې د روښاني غورځنګ له ادبي هلو ځلو او ادبي علمي تحقيقاتو پيلېږي ، په هر اړخيز ډول څېړنه شوې ده. په ټوليز ډول په دې اثر کې د کلاسيکې دورې څلور ادبي مکتبونه تر ژورې کتنې لاندې نيول شوي دي. روښاني ادبي مکتب، خوشحال خان خټک ادبي مکتب، د عبدالرحمان بابا تصوفي او عرفاني مکتب او د حميد او شيدا د نازکخيالۍ ادبي مکتب دی، چې په کلاسيکه دوره کې ځانګړی ارزښت او ځای لري.

څېړنوال قيومي د څېړنې اصلي موضوع چې په « کلاسيکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاريخي پرمختيايي بهير څېړنه» ده، د موضوع د ښه وضاحت لپاره يې لومړی څپرکی د يادې موضوع شاليد ته ځانګړی کړی دی او په دې پمسنظر کې يې د موضوع اړوند د ترسره شوو کارونو لنډه ارزونه هم کړې ده.

دوهم څپرکی ادبي مکتبونو ته ځانګړی شوی، مکتب او ادبي سبک بېلونه، توپير، جوړښت او پايښت په اړه علمي بحث شوی او د ادبي کلاسيکې دورې پېژندنه هم راغلې ده.

دريم څپرکي کې د روښاني ادبي مکتب د مفصل بحث سربېره د دې ادبي مکتب بنسټګر پيرروښان او همدا راز د روښان د پيروانو ژوند، افکار او د اشعارو ځانګړنې روښانه شوې دي.

څلورم څپرکي کې د خوشحال خان ادبي مکتب، د خوشحال خان ژوند ، آثار او

افکار ، د خوشحال د ادبي مکتب د مخکښو لارویانو ژوند او داستاني آثارو پر ځانګړنو په تفصیل سره بحث شوی دی. پنځم څپرکی د عبدالرحمان بابا تصوفي ادبي مکتب ته ځانګړی شوی، د څپرکي په سر کې د دې ادبي مکتب په اړوند د ځېنو پوهان او علماوو نظریات وړاندې شوي، د دې ادبي مکتب اهمیت، ارزښت او د اشعارو روحیه او د فکر پیروان یې تشریح او توضیح شوي دي.

شپږم څپرکي کې د نازکخیالۍ د ادبي مکتب ایجاد، څرنګوالي او ځانګړنې روښانه شوي او همدارنګه د حمید مومند پر اشعارو ، آثارو او افکارو په تفصیل سره بحث شوی دی او همدې څپرکي په وروستۍ برخه کې پایله، وړاندیزونه او معتبر اخځلیکونه هم ذکر شوي دي.

په دې علمي پروژه کې ښاغلي قیومي ډېرې هلې ځلې کړي، چې د کلاسیکې دورې ټول ادبي مکتبونه په مفصل او سیستماتیکه بڼه وڅېړي او کومو تېروتنو چې د ادبي مکتبونو د بنسټګرو او پیروانو په اړه شتون درلود، د ښکاره بېلګو په راوړلو سره اړوند حقایق رابرسېره کړي.

د ښاغلي قیومي علمي پروژه کې ډېر موضوعات نوي دي، له ډېرو معتبرو او باوري اخځلیکونو څخه یې لومړی په متن کې او بیا د څېړنیزې لیکنې ماخذ ښودنې له اصولو سره سم کار اخیستی دی. د منل شوو اکاډمیکو اصولو او معیارونو سره سم یې موضوعات ترتیب کړي. د لیکنې ژبه یې روانه او سلیسه ده، د معیاري لیکدود په کارولو کې خپلې هڅې کړي، لیک نخښې او نښانې یې په پام کې نیولي دي. څېړنه یې معیاري ده، د لیکنې روش او میتود یې د کیفیت له مخې ترسره شوی دی او په تحقیق کې یې موضوعات په تشریحي، توضیحي، پرتلیز او انتقادي بڼه لیکل شوي دي.

زه دا علمي پروژه د څېړنپوه علمي رتبې لپاره کافي ګڼم، د لوی څښتن( ج ) له دربار څخه یې د پښتو ادب د لا بډای کولو په لاره کې د نورو بریاوو غوښتونکی یم.

په درنښت

پوهاند جمشید رشیدي

د شهید استاد رباني د ښوونې او روزنې، ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې استاد.

# سریزه

د پښتو ادبیاتو دوهمه دوره چې په ادبي څېړنو کې کلاسیکه یا منځنۍ دوره هم بلل کېږي، د لسمې هجري پېړۍ له نیمايي څخه پیل کېږي او د څوارلسمې پېړۍ تر لومړیو دوو یا دریوو لسیزو پورې دوام کوي.

د پښتو ادبیاتو د تاریخ کلاسیکه دوره د بېلابېلو سیاسي، ملي او مذهبي غورځنګونو تر ژورې اغېزې لاندې رامنځ ته او د بشپړتیا پړاو ته رسېدلې ده چې په ترڅ کې یې ستر ادبي سبکونه ایجاد شوي او بیا د مخکښو ادبي څېرو په نوښتګرو هڅو د ادبي مکتبونو د رامنځ ته کېدو لارې چارې برابرې شوي دي او تر بېلابېلو شرایطو لاندې یې د ودې او پرمختیا پړاوونه وهلي دي.

په کلاسیکه دوره کې دغه څلور ادبي مکتبونه د پېژندنې وړ دي، روښاني عرفاني ادبي مکتب، د خوشحال ادبي مکتب، د رحمان بابا تصوفي ـ عرفاني مکتب او د حمید او شیدا د نازکخیالۍ ادبي مکتب. دغه دوره د روښاني غورځنګ له ادبي هلو ځلو او ادبي تخلیقاتو څخه راپیلېږي. د دغې دورې هر اړخیزه او ژوره مطالعه د پښتو ادب په تاریخ کې ځانګړې او د ارزښت وړ ځای لري، دا ځکه چې د پښتو ادبي مکتبونو پیلامه له همدې دورې پیلېږي، د همدغه زرین دور په لومړي پړاو کې د بایزید روښان په څېر نابغه شخصیت له تورې او قلم سره ډګر ته راوځي، خپل سیاسي تګلورې د عرفان او تصوف په مزو راټینګوي، د دې تر څنګ هغه د لغت جوړونې(نیولوګیزم) په برخه کې هم منظم کار پیل کړ چې د ژبې د اهمیت له مخې هم زیات ارزښت لري، د نوموړي د دې هڅو بېلګې په خیرالبیان کې لیدلی شو.

له ده څخه وروسته خوشحال خان خټک د یوه ادبي مکتب د باني په توګه ټول هغه مضامین او د شعرونو ډولونه پښتو ادب ته راداخل کړل چې د هماغه وخت د نورو ژبو په ادب کې موجود و. د ده کلام په رښتیا هم (مواج بحر) دی چې د مضمون او شکل دواړو له مخې غني دی.

د عبدالرحمان بابا دریځ د پښتو کلاسیک ادب په ارتقا او ښکلا کې د پاملرنې وړ دی، نوي شاعرانه ترکیبونه او تصویرونه د هغه د شعرونو اساسي ځانګړنه ده. دغه مفاهیم زیات پیچلي نه دي، بلکې ساده او سلیس دي.

د همدغه ساده او عام فهمه کلام د شهرت او مقبولیت له مخې نوموړی د یوه ادبي مکتب د بنسټګر په توګه پېژندل شوی دی.

همدارنګه حمید مومند د پښتو شاعرۍ د نازکخیالۍ د ادبي مکتب موجد دی، ده په خپله نازکخیاله شاعرۍ کې د استعارو، کنایو او تشبیهاتو استعمال ډېر زیات کړی دی. د هغه د شعر هره کرښه له همدې ښکلو صنعتونو څخه ډکه ده چې هر څېړونکی د ده په نازکخیالۍ او د کلام په خوږوالي اعتراف کوي.

کاظم خان شیدا تر حمید مومند وروسته په نازکخیالۍ او موشګافۍ کې د زیات شهرت خاوند دی. ده په خپلو تشبیهاتو، استعارو او کنایو د پښتو شاعرۍ مانۍ دنګه او ښکلې ساتلې ده.

دغه څېړنیز اثر سریزه، شپږ څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د مأخذونو فهرست لري.

لومړی څپرکی شالید(پسمنظر) دی چې پر تاریخچې سربېره د موضوع په اړه د ترسره شوو کارونو جاج هم په کې اخیستل شوی او د هغو لنډه ارزونه هم په انتقادي بڼه ترسره شوې ده.

دوهم څپرکی د ادبي مکتب پېژندنې ته ځانګړی شوی چې په کې د ادبي مکتب او ادبي سبک د توپیرونو پر ښودلو سربېره د ادبي مکتب د جوړښت او پایښت د مسألې په اړه مفصل بحث راغلی دی، بیا وروسته د پښتو ادب د کلاسیکې دورې پېژندنه هم راغلې ده او همدارنګه د نورو اړوندو موضوع ګانو په اړه هم بحث شوی دی.

په دریم څپرکي کې د روښاني ادبي مکتب پر بحث سربېره، د دې ادبي مکتب د بنسټګر پیر روښان او د هغه د مخکښو پیروانو پر ژوند، آثارو او افکارو په بشپړه توګه رڼا اچول شوې او په ترڅ کې یې په تولیز ډول د دوی د اشعارو هغه ځانګړنې په ګوته شوي چې د روښان د نظریاتو د ژورې اغېزې د منلو په پایله کې ویل شوي دي.

په څلورم څپرکي کې د خوشحال خان د ادبي مکتب د هر اړخیزې پېژندنې ترڅنګ، د ده پر ژوند، آثارو او افکارو په بشپړه توګه څېړنه شوې ده. وروسته له دې د دې ادبي مکتب د مخکښو لاروپانو لکه: اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، سکندر خان او صدرخان پر ژوند، د داستاني آثارو پر ځانګړنو او نورو... په تفصیل سره خبرې شوي او په تولیز ډول د پښتو ادبي مکتبونو په پرمختیایي بهیر کې د دې کورنۍ ونډه جوته شوې ده.

پنځم څپرکی د عبدالرحمان بابا تصوفي ـ عرفاني ادبي مکتب ته ځانګړی شوی چې لومړی د دې ادبي مکتب په اړه د ځینو هغو پوهانو نظریات راوړل شوي چې د دې ادبي مکتب اهمیت په ښه توګه څرګندوي. بیا په همدې څپرکي کې د دې ادبي مکتب بنسټګر (عبدالرحمان بابا) او نومیالي استازي پېژندل شوي او په تولیز ډول د دوی د اشعارو

په هغو برخو بحث شوی چې په پایله کې ټول د یوه فکر په دایره کې داخلوي.

د دې اثر په شپږم او وروستي څپرکي کې د نازکخیالۍ د ادبي مکتب د ایجاد پر څرنګوالي سربېره د هغه ځانګړنې هم په ګوته شوي، ورپسې د دې ادبي مکتب د بنسټګر (حمید مومند) پر ژوند، آثارو او افکارو او د ده د شاعرۍ پر هغو ځانګړنو په تفصیل سره بحث شوی چې له مخې یې د هغه پر سرلاریتوب ثابتېږي، ورپسې د ده د تکړه لارویانو د ژوند او آثارو پر معرفۍ سربېره، د دوی د شعرونو پر هغو ځانګړنو او خصوصیاتو بحث شوی چې د حمید مومند د اشعارو رنګ په کې ښکاره او جوت دی. همدارنګه په همدې څپرکي کې کاظم خان شیدا د نازکخیالۍ د ادبي مکتب د بشپړوونکي په توګه معرفي شوی او د کلام هغو برخو ته یې اشارې شوې دي چې د هندي سبک د اغېزو په وجه یې د هغه ټول تعابیر خپل کړي دي. ورپسې پایله او وړاندیزونه راغلي او د اثر په پای کې دالفبې په ترتیب د هغو اخځونو لیکلړ راغلی چې د دې اثر په بشپړولو کې ترې استفاده شوې ده. د دې څېړنیز اثر په بشپړولو کې دغه لاندې ټکي هم په پام کې نیول شوي دي.

**د موضوع مبرمیت او اهمیت:** د دې اثر اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې تر اوسه په پښتو ادبیاتو کې داسې بشپړ ځانګړی اثر چې د کلاسیکې دورې ټول ادبي مکتبونه په مفصل او هر اړخیز ډول راوپېژني، نه تر سترګو کېږي، که څه هم د دې دورې د ځینو مکتبونو په اړه خورې ورې لیکنې ترسره شوي دي چې د خپل لنډون له مخې د لوستونکو ټولې پوښتنې یې نه شوای ځوابولای؛ نو له همدې امله زیاته اړتیا محسوسېده چې په دې اړه یو داسې هر اړخیزه او سیستیماتیکه څېړنه ترسره شي چې دغه ادبي مکتبونه له خپل پرمختیایي بهیر سره یو ځای په بشپړ ډول و پېژندل شي او په اړه یې معلومات په یوه اثر کې ترلاسه شي. له بلې خوا کومو ښاغلو لیکوالو چې په دې اړه لیکنې کړې وې زیاتره یې تذکره ډوله وې یواځې ژوند لیکونه او د کلام بېلګې یې راوړل شوې وې، په دې اثر کې هڅه شوې ده چې د هغوی فکري همآهنګي او د اشعارو پرتلنه هم تر سره شي.

د همدې تشې د ډکولو لپاره دا موضوع د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز د محترم ریاست له خوا د یوې علمي پروژې په توګه ما ته د څېړنې لپاره راوسپارل شوه، ما هم له پخوانیو او نوو تر لاسه شوو علمي آثارو څخه په استفادې له منل شوو علمي اصولو سره سم دا پروژه بشپړه کړه او دا دی د یوه علمي څېړنیز اثر په توګه یې لوستونکو او په ځانګړې توګه د ادب مینه والو ته وړاندې کوم.

د یادونې وړ بې بولم چې د دې ادبي مکتبونو د بنسټګرو او پیروانو په اړه هم زیاتې تېروتنې ترسره شوي دي. د بېلګې په توګه کاظم خان شیدا چې د خوشحال خان

ختک د کورنۍ غړی دی په همدې سبب د هغه پیرو بلل شوی دی، که چېرې د کاظم خان شیدا د اشعارو سبک وڅېړل شي، د خوشحال خان د افکارو له عمومي ساحې څخه زیات لرې دی او د نازکخیالۍ په ادبي مکتب پورې اړوند شاعر دی.

بله دیا دولووړ خبره دا ده چې د اثر سرلیک چې د وخت د محترم ریسه هیت له خوا تایید او تصویب شوی په دې ډول دی ( په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخی پرمختیایي بهیر څېړنه) چې محترم ادیتور په تایید چې عنوان باید لنډ او جذاب وي په دې ډول تعدیل شو ( په کلاسیکه دوره کې پښتو ادبي مکتبونه).

**د څېړنې میتود:** د دې اثر په لیکلو کې تر ډېره بریده له تشرېحي، توضیحي، پرتلیز او انتقادي میتودونو څخه کار اخیستل شوی دی.

په پای کې تر هر څه لومړی له خپل لارښود استاد څېړنپوه نعمت الله اندړ څخه د زړه له کومي مننه کوم او کورودانی ورته وایم چې خپلې نېکې لارښوونې راڅخه نه دي سپمولي.

همدارنګه د بشري علومو له مرستیال څېړنپوه نصرالله ناصر څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په پوره زغم او حوصله یې دغه څېړنیزه پروژه ټکي په ټکي کتلې او لازمې سمونې یې په کې کړي دي. همدارنګه له څېړنپوه دکتور سید محی الدین هاشمي، پوهاند اسماعیل یون او پوهاند جمشېد رشیدي څخه هم مننه کوم چې خپل لارښودي نظریات یې د پروژې په اړوند وړاندې کړي دي.

همدارنګه له ښاغلي څېړنوال عبدالظاهر شکېب څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د برابرولو په برخه کې یې زیاته همکاري راسره کړې ده چې زه یې د دې پیرزوینې پوروړی یم.

په پای کې د یادونې وړ بولم چې زما دغه څېړنه تر ډېره بریده د ادب د مینه والو تنده ماته کړي او کېدای شي چې د نوو معلوماتو په رڼا کې نور زیات څه هم وویل شي او نوي افقونه پرانیستل شي؛ خو تر کومه ځایه یې چې په ما پورې اړه درلوده، په دغې څېړنه کې ما د امکان تر بریده هڅه کړې چې له مخکنیو کارونو څخه بشپړه او هم له نوښت څخه برخمنه وي.

هیله مند یم چې دغه اثر د کلاسیکي دورې د پښتو ادبي مکتبونو د پرمختیایي بهیر له بشپړتیا او همدارنګه د پښتو ادبیاتو د تاریخ په لیکلو کې د یوه غوره ماخذ په توګه د ګټې وړ وګرځي.

# لومړی څپرکی

## د موضوع شالید

څرنگه چې انسانان د څېرو، شخصیتونو یا د فکر د طرز له مخې توپیر لري، دغسې سبکونه هم سره ورته نه دي، هر لیکوال او شاعر خپل سبک لري، خو کله کله د یو شاعر او لیکوال سبک دومره مشهور شي چې بیا گڼ شمېر لیکوالان او شاعران په شعوري او ناشعوري توگه د هغه د تقلید هڅه کوي او له همدغه تقلیده وروسته سبکونه رامنځ ته کېږي. له دغو ورته سبکونو څخه چې زیاتره اړخونه یې سره گډ وي، بیا ادبي مکتبونه رامنځ ته کېږي.

د ادبي څېړنو په بهیر کې روښانه شوې چې ادبي مکتب د هغه پړاو محصول دی چې د ژبې ادبیات پوخوالي ته رسېدلي وي. د ادبي مکتب رامنځ ته کېدل، د یوې ټولنې په ټاکلو تاریخي، ټولنیزو او فرهنگي شرایطو پورې اړه لري او هر مکتب د یوې ډلې ادیبانو د ذوقي او فکري تمایلاتو او گټو استازیتوب کوي، ځکه د تاریخ په اوږدو کې بېلابېل ادبي جریانونه د خپلو ځانگړو تاریخي او ټولنیزو خصلتونو په لرلو سره د بېلابېلو پرگنو، د ډله ییزو ارمانونو او گټو د تبلیغ لپاره کارېدلي دي.

دلته د دې خبرې یادونه ضروري ده چې ادبي مکتب له ټولنیزو، سیاسي او فرهنگي بهیرونو سره جوخت روان دی، نو په دې توگه د هر ادبي مکتب د بنسټگر پر شخصي ژوند سربېره د هغه وخت د ټولنې مطالعه د مکتب په پېژندنه کې لازمه مرسته کولای شي.

د آثارو له پېژندنې تر څه ويلو د مخه به د موضوع په اړه د ترسره شوي کار جاج واخلو او په لنډه توگه به يې د څرنگوالي ارزونه وکړو.

زما د معلوماتو له مخې تر اوسه پورې په پښتو ادب کې کومه بشپړه او منظمه څېړنه نه ده ترسره شوې چې دغه ادبي مکتبونه له خپل پرمختيايي بهير سره يو ځاى په بشپړ ډول په يوه اثر کې پېژندل شوي وي، که څه هم د نوموړې موضوع د ځينو مسايلو په اړه د ځينو ليکوالو له خوا په ضمني توگه ځينې څېړنې ترسره شوي دي چې هغه په بشپړ ډول د ادبي مکتبونو د پېژندلو آرونه (اصلونه) نه په گوته کوي، خو د دې خبرې يادونه ضرور بولم چې ځينو څېړونکو د دې موضوع په يو څپرکي او يا يو ادبي مکتب يو لړ مفصل کارونه ترسره کړي دي، لکه: دوکتور عارف عثمان، څېړنپوه عبدالواجد واجد او نور... څرنگه چې په ادب کې وخت په وخت نوي بدلونونه رامنځ ته کيږي دغه کارونه په خپل وخت کې د ارزښت او درنښت وړ دي، خو ادبي مکتب د يوې ډلې د ادبي خصوصياتو او ځانگړنو په يووالي او وحدت باندې بحث کوي چې نوموړي آثار د لوستونکو دغو پوښتنو ته بشپړ ځواب نه شي ويلاى.

دلته د نوموړو څېړونکو د آثارو په اړه له زيات تفصيل څخه ډډه کوم، ځکه د آثارو د پېژندلو په لړ کې به ورته بشپړه اشاره وشي.

که څه هم په دې علمي- څېړنيزه پروژه کې له (۱۲۳) ببلابېلو ماخذونو څخه گټه پورته شوې ده چې زياتره يې د شاعرانو دېوانونه دي. خو دلته ځينې هغه مهم ماخذونه چې زما تر څېړنې لاندې له موضوع سره په يو ډول نه يو ډول اړخ لگوي، په لنډ ډول معرفي کوم:

### توريالى پښتون:

د خوشحال خان خټک د بين المللي سيمينار د مقالو ټولگه ده چې د محمد شېرين سنگري خوږيانۍ په اهتمام په ۱۳۵۰ ل کال د پښتو ټولنې له خوا په ۲۸۸ مخونو کې د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده.

پر دې مجموعه باندې پوهاند صديق الله رښتين يوه علمي سريزه ليکلې ده. تر فهرست وروسته د وخت د صدارعظم نوراحمد اعتمادي د وينا متن راغلی ورپسې د صدارت د دوهم مرستيال او د پوهنې د وزير دکتور عبدالقيوم او د کابل پوهنتون د رئيس پوهاند سيد عبدالقادر بها د ويناوو متنونه او بهرني پيغامونه راغلي دي. بيا د سيمينار د ويناوالو مقالې په دې توگه راغلي دي: د استاد قيام الدين خادم مقاله(د خوشحال خان دستارنامې ته يوه کتنه) د استاد حبيب الله تږي نيازي مقاله(د خوشحال خان مطالعه د نوي

نقد د اصولو په اساس) د سلطان محمد صابر مقاله(خوشحال خان او انساني کرامت) د دوکتور عبداللطیف جلالي مقاله(د خوشحال خان په اشعارو کې د تاریخي پېښو انعکاس) د محمد دین ژواک مقاله(د خوشحال په شاعرۍ کې ریالیستي افکار) د پرېشان خټک مقاله(د خوشحال خټک ژوند د پښتونولۍ په آیینه کې) د دوست شینواري مقاله(د خوشحال خان خټک د اشعارو لغوي خوا) د حمزه شینواري مقاله(د خوشحال خان په شاعرۍ کې باز او باتور) د مېرمن معصومه عصمتي مقاله(د خوشحال اولسي او اجتماعي اشعارو ته کتنه) د میر محمد صدیق فرهنگ مقاله(محیط اقتصادي اجتماعي و سیاسي خوشحال خان) د فضل احمد غازي مقاله(خوشحال خان د خپلو اشعارو په هېنداره کې) د عبدالرسول امین مقاله(د خوشحال په نظر کې د خپلواکۍ موضوع) د عبدالاکبر اکبر مقاله(خوشحال د پښتنو په نظر کې) د دوکتور گل محمد نورزي مقاله(د خوشحال خان جهان بیني) د محمد کاظم آهنگ مقاله(اشعار دری خوشحال خان خټک) د عارف عثمانوف مقاله(د خوشحال په رباعیاتو کې اخلاقي افکار) د قلندر مومند مقاله(پښتو ته د خوشحال بخښنې) همدارنگه په پای کې د پوهاند صدیق الله رښتین مقاله(د خوشحال خان د نثر سبک) تر سرلیک لاندې راغلي دي.

په دغه اثر کې ټولې مقالې له لوړ علمي او څېړنیز ارزښت څخه برخمنې دي چې په خپل وار سره د خوشحال خان د څو بعدي شخصیت په روښانولو کې کره او مفصل معلومات وړاندې کوي. ما هم د خپلې پروژې په څلورم څپرکي کې د خوشحال ادبي مکتب په برخه کې پوره گټه ترې اخیستې ده.

**وږمه مجله:**

وږمه مجله چې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي فلسفي، علمي، ټولنیزه او هنري خپرونه ده، د ۱۳۵۰ ل کال په پنځمه او شپږمه گڼه، ۳۱-۴۶ مخونو کې یې د (پیرروښان او د ده تصوفي ښوونځي د منځ ته راتگ عوامل) تر سرلیک لاندې د محمد طاهر (علمي) یوه ارزښتناکه مقاله خپره کړې ده.

په دې علمي- تحقیقي مقالې کې راغلي چې د روښاني مکتب ایجاد او وده معمولاً ځانگړي عوامل لري او د دې مکتب تر شا هم ځینو عواملو لاس سره یو کړی و چې ماهیت یې زیاتره ټولنیز، سیاسي او فرهنگي و.

پورتني عوامل څکه د هر مکتب او نهضت د منځ ته راتلو لپاره ضروري دي چې د همدغو عواملو په چوکاټ کې مکتبونه راپیداکیږي، وده کوي او د پرمختگ پړاوونه وهي.د همدې لاملونو پر بنسټ د پیر روښان ادبي مکتب هم منځ ته راغلی او د پښتو ادب

په غنامندۍ کې يې د يادونې وړ برخه لرلې ده.

استاد علمي د پير روښان نهضت يو بشپړ سياسي حرکت بولي چې د مذهبي او تصوفي افکارو په جامه کې رانغښتل شوی و، د دې ثبوت لپاره چې سياسي مقاصد تل د مذهب له لارې تر سره کېږي د يوه انګريز خبره راوړي چې وايي:

« د افغانانو او د انګليسانو د جنګونو په وخت کې به انګليسان د خوړانو(خوګانو) نوي نوي پوستکي افغانستان ته راوړل او چې کوم افغان به يې راګير کړ؛ نو ورته به يې وويل چې يا د قواوو مخزن راوښيه او که نه وي؛ نو د دې خوړ(خوګ) په پوست کې به دې تاو کړو چې تر ابده دوزخي شي».

په دې ډول ډېر زيات کره او ناکره اقوال موجود دي چې د مذهب اغېزه په وروسته پاتې ټولنو کې تمثيلولی شي؛ نو ځکه پير روښان لومړی خپله ټولنه مطالعه کړه او وروسته يې خپل مقصد ته د رسېدو لاره وټاکله.

همدارنګه د تېرې ګڼې د مقالې پاتې برخه د (۱۳۵۱ ل کال) په لومړۍ او دوهمه ګڼه کې راغلې ده. په دې ګڼه کې بيا هم ليکوال د پيرروښان او اخوند دوريزه د مخالفت د اصلي علت، د روښان تصوف او سلوک په اړه تر هر اړخيزو معلوماتو وروسته د دغه بحث لړۍ د روښان نظرياتو او تعليماتو ته غځوي چې د کمال په اتو مرتبو يې پای ته رسوي.

په نوموړې علمي- څېړنيزې مقالې کې ډېر زيات ارزښتناک مسايل تر سترګو کېږي چې ما هم د پيرروښان د تصوفي ادبي مکتب په برخه کې له خپلې موضوع سره د اړيکې له مخې د يوه مهم اخځ په توګه ترې ګټه پورته کړې ده.

## خوشحال خان خټک او د ده ادبي مکتب:

دغه اثر د دوکتور عارف عثمان د هغو مقالو ټولګه ده چې په بېلابېلو وختونو کې يې د کابل مجلې لپاره ليکلې او چاپ شوې دي. بيا د (خوشحال او د ده ادبي مکتب) په نامه په کتابي ډول په ۱۳۶۱ ل کال د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز له خوا په ۲۱۵ مخونو کې چاپ شوی دی.

عارف عثمان د خوشحال خټک د ژوند هر اړخ په ډېر دقت سره څېړلی دی، په دې څېړنو کې يې د خوشحال د شعر په بېلابېلو معنوي ارزښتونو هر اړخيزه رڼا اچولې ده، لکه: د خوشحال خان خټک په رباعياتو کې هيومانستيک افکار، وطندوست شاعر، مينه او محبت، د جمالياتو او اخلاقياتو د مضامينو په څرګندولو او افادې سربېره په رباعي ليکنه کې د خوشحال بديعي مهارت ښودل شوی دی او د خوشحال خان په اشعارو کې د افغاني او شرقي فولکلور رېښې سپړل شوې دي.

عارف عثمان د یو پوه څېړونکي په توګه د خوشحال خټک زمانې ته یوه لنډه کتنه کړې ده او د خټکو په اړه یې هم لنډ معلومات وړاندې کړي دي، همدارنګه یې د خوشحال خټک پر ادبي مکتب باندې هم څېړنه کړې ده او د هغه د کورنۍ شاعران او ادیبان یې هم په لنډه توګه معرفي کړي دي. د لیکوال په دې اثر کې د خوشحال خان د شعر محتوا او معنوي ارزښتونه داسې څېړل شوي دي چې د بشري نړۍ د فکر، نظر، ادب او کلتور په بهیر کې د خوشحال د اشعارو او افکارو دریځ روښانوي.

څرنګه چې د هغه ادبي مکتب رامنځ ته کېدل ټولنیزه، سیاسي او فرهنګي ریښه لري او د ټولنې له غوښتنو سره سم هر څه بیانېږي او منځته راځي، البته د خوشحال د ادبي مکتب د ایجاد لپاره د عارف عثمان علمي او ادبي اثر ډېر باوري او ګټور معلومات وړاندې کوي، خو په ځانګړي ډول هغه فکري وحدت او د بیان ډول چې خوشحال خان او پیروان یې په یوه فکري مکتب کې داخلوي، په دې اړه څرګندونې د نشت په حساب دي.

همدرانګه په دې اثر کې کاظم خان شیدا ، کامګار خان خټک او علي خان د خوشحال خان د سبک پیرو بلل شوي دي، په داسې حال کې چې دوی د خوشحال خان د سبک پیرو نه ، بلکې د عبدالحمید مومند د سبک پیرو دي، که څه هم د کاظم خان شیدا پر شاعرۍ د عبدالحمید مومند اغېزې شته، خو شیدا په خپله شاعرۍ کې د هندي ادبي سبک د ټولو ځانګړنو په خپلولو کې تر حمید د مخه دی، نو ځکه موږ دی په بشپړ ډول یواځې د حمید مومند په پیروانو کې نه شو درولای.

## پښتو ادبي مکتبونه:

د پوهاند صدیق الله رښتین اثر دی چې په ۱۳٦۲ ل کال د پښتونخوا پېښور یونیورستي بک ایجنسي له خوا د زرو ټوکو په شمېر په کوچنۍ کچه او صحافت په ٥٦ مخونو کې چاپ شوی دی.

په دې اثر کې په ټولیز ډول د ادبي مکتبونو په اړه دغه لاندیني سرلیکونه راغلي دي: د سبک پېژندنه، د پښتو ادبي مکتبونه، لرغونی مکتب، روښاني مکتب، د خوشحال مکتب، د رحمان مکتب، د حمید مکتب، د پښتو اشعارو معنوي پانګه، د پښتو د نثر مکتبونه، د سلیمان ماکو مکتب، د میاروښان مکتب، د خوشحال خان مکتب، د منشي احمد جان مکتب او نوې دوره.

پوهاند رښتین د پښتو ادبي مکتبونو په اړه خپل نظر داسې څرګندوي: « موږ دلته د

پښتو ادبي مکتبونه او سبکونه د پښتو اشعارو په هنداره کې ګورو او د غربي ادب په چوکاټ کې يې اچول نه غواړو. البته که په کوم ځای کې ورسره سمون خوري، دا به د بشري دماغ او فکر د نږدېوالي يوه لازمي نتيجه وي.»(۵۵: ۵ م)

دغه اثر که څه هم د کچې له مخې کوچنی او څېړنيز اصول په کې نه دي مراعات شوي؛ خو بيا هم د يوه باوري اخځ په توګه کارېدای شي.

### د عبدالحميد مومند ياد:

د عبدالحميد مومند د سيمينار د مقالو ټولګه ده چې د زلمي هېوادمل په زيار او اهتمام په ۱۳٦٦ ل کال د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز له خوا په ۱۷۸ مخونو کې د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده.

سريزه پرې د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز رئيس دوست شينواري ليکلې ده. تر فهرست وروسته په دې ټولګه کې د اکاډيميسن عبدالشکور رشاد مقاله(د حميد شرعة الاسلام) د کانديد اکاډيميسن محمد صديق روهي مقاله(ايا حميد د هندي سبک پيرو و) د محقق نورمحمد سهيم مقاله(د حميد د شاه و ګدا تمثيلي اړخ) د پوهاند دوکتور زيار مقاله (د حميد مومند ليکلار) د سرمحقق دوست شينواري مقاله(د حميد نيولوګيزم) د سرمحقق معتمد جنتي شينواري مقاله(حميد مومند د نورو په نظر) د ښاغلي زرين انځور مقاله(د حميد داستاني آثارو ته يوه کتنه) د کانديد اکاډيميسين محمد ابراهيم عطايي مقاله(د اتنوګرافيکي څېړنو په رڼا کې د مومندو پر قبيله يوه لنډه کتنه) د ښاغلي اسدالله شعور مقاله(رګه های از مردم نګاری و فرهنګ مردم در دېوان حميد مومند) د ښاغلي زلمي هېوادمل مقاله(د عبدالحميد مومند د دېوان وروستۍ چاپي نسخې ته د متنپوهنې له پلوه کره کتنه) د سر محقق دولت محمد لودين مقاله(د حميد مومند په شعر کې د ده د عصر د ټولنيز ژوند څېره) د سرمحقق علي محمد منګل مقاله(عبدالحميد مومند ماشوخېل دی که خدريزی؟) د پوهنيار آصف بهاند مقاله(د حميد خمريه اشعار) د دوکتور مصطفی نږدې مقاله (د عبدالحميد مومند بشر دوستي) د حسن ګل بانډه وال مقاله(د اوسنۍ ښوونې او روزنې له مخې د حميد د اشعارو روزنيز اړخ ته يوه انتقادي کتنه) په پای کې د دوکتور خليل الله اورمړ مقاله(په لغوي زېرمه کې د لرغونو ارياني ژبو د ريښې څرک) په دې ټولګه

کې زیاتې علمي- څېړنیزې مقالې راغلي دي چې ما هم له ځینو څخه د پروژې په بشپړتیا کې ګټه پورته کړې ده.

### ادبي څېړنې:

د څېړندوی محمد صدیق روهي اثر دی. لومړی ځل په ۱۳۶۰ ل کال د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي له خوا د غلام محی الدین افغان د شپېتم تلین په مناسبت د جوړ شوي سیمینار په ویاړ په ۴۲۵ مخونو کې چاپ شوی دی.

دا اثر دوهم ځل په ۱۳۶۸ ل کال د دانش خپرندویې ټولنې له خوا د زرو ټوکو په شمېر چاپ او خپور شوی دی.

د دې علمي څېړنیز اثر موضوعات په دې لاندې څلورو برخو کې اوډل شوي دي. په لومړۍ برخه کې د ادبي تیورۍ په اړه په دوهمه برخه کې د ادبي کره کتنې، په دریمه برخه کې د ادبي مېتودونو (ادبي مکتبونه) او څلورمه برخه کې د ادبي تاریخ په اړه مطالب راغلي دي.په دې اثر کې د باوري سرچینو پر بنسټ د ادبپوهنې د بېلابېلو څانګو په اړه علمي او څېړنیز معلومات وړاندې شوي دي چې ما هم په خپله لیکنه کې له دې اثر څخه ګټه اخیستې ده.

### د عبدالرحمان بابا مومند یاد:

د عبدالرحمان بابا د دوه سوه اتیایم تلین په مناسبت د جوړ شوي سیمینار د مقالو ټولګه ده چې د پوهنمل آصف بهاند په اهتمام په ۱۳۶۹ ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا په ۲۹۶ مخونو کې د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده.

تر فهرست وروسته د علامه پوهاند عبدالحی حبیبي مقاله د(خوشحالا او دولتا) تر سرلیک لاندې راغلې او تر هغه وروسته د وخت د جمهور ریس د مرستیال دوکتور عبدالواحد سرابي پرانیستونکې وینا راغلې ده. بیا د کابل پوهنتون رئیس پوهندوی دوکتور طاهر عنایت وینا وروسته د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي، وروسته نګاهي به ترجمه اشعار عبدالرحمان بابا بزبان اردو، د عبدالرحمان بابا دغه غزله په کوم وزن کې ده؟ ، عبدالرحمان بابا نخبه سخنور زبان پشتو، د عبدالرحمان بابا پیغام، بازتاب وقایع تاریخي در دېوان عبدالرحمان بابا، د عبدالرحمان بابا په شعر کې تخیل او تصویر، سخني چند پیرامون زنده ګی نامه عبدالرحمان مومند، د عبدالرحمان بابا د عصر پر سیاسي او فرهنګي جریانونو یوه لنډه کتنه، د عبدالرحمان بابا په دېوان کې له وریجو سره

د شګو ګډون، د عبدالرحمان بابا د شاعرۍ څو عمده ځانګړتیاوو ته یوه کتنه، د عبدالرحمان بابا لیکلار، د تصوفي جریانونو په ارتباط د عبدالرحمان بابا لنډه مطالعه، د پښتو نومیالی شاعر عبدالرحمان بابا د شوروي محقیقینو په نظر کې ، د عبدالرحمان بابا پر دېوان د فال نیولو موضوع، د عبدالرحمان بابا په دېوان کې د انتقاد رېښې، د عبدالرحمان بابا د شعري سبک ځانګړنې، د عبدالرحمان بابا ادبي مکتب او د ده پیروان، رحمان ولې بابا شو، د عبدالرحمان بابا په شعرونو کې طبقاتي او ملي ارزښتونه، د عبدالرحمان بابا په دېوان کې د فولکلور رېښې او  د عبدالرحمان بابا فولکلوري سوانح یو پر بل پسې راغلي دي. لیکوالو د عبدالرحمان بابا او د ده د عصر پر سیاسي، فرهنګي او تصوفي جریانونو او نورو بېلابېلو اړخونو په زړه پورې رڼا اچولې ده چې څېړونکو ته باوري او کره معلومات په لاس ورکوي. ما هم د دې ټولګې له ځینو مقالو څخه د خپلې پروژې په پنځم څپرکي کې پوره ګټه اخیستې ده.

د پورتنیو آثارو د پېژندنې په ترځ کې که د پښتو ادبیاتو د کلاسیکې دورې د ادبي مکتبونو په اړه د ترسره شوي کار جاج واخلو، دې پایلې ته رسېږو چې په دې اړه په هر یو لیکلي اثر کې په ځنګیزه توګه یواځې په څو محدودو مخونو او کرښو کې د کلاسیکې دورې د بېلابېلو مکتبونو په اړه لنډ معلومات راغلي چې په هیڅ ډول د ادب مینه والو پوښتنو ته ځواب نه شي ویلای او ادبي تنده یې نه شي خړوبولای.

خو دغه آثار د هغه وخت شرایطو ته په کتو د ارزښت او درنښت وړ دي او په دې اړه د یوې نوې ودانۍ د جوړښت د اومو موادو حیثیت لري. ما هم د همدغو او یو شمېر شعري دېوانونو او آثارو له مخې دغه پروژه بشپړه کړې ده چې په نسبي توګه د دې موضوع په اړه بشپړ معلومات په کې راټول شوي دي. دا چې د پښتو ادبیاتو د کلاسیکې دورې د ادبي مکتبونو په اړه کوم داسې اثر چې نوموړې موضوع ته ځانګړی شوی وي او هر اړخیز معلومات په کې وړاندې شوي وي نه شته، نو پر همدې بنسټ دا اړتیا احساسېدله چې په دې برخه کې د نوو څېړنو په رڼا کې داسې اثر وکښل شي چې دغه څلور ادبي مکتبونه(روښاني- عرفاني ادبي مکتب، د خوشحال ادبي مکتب، د عبدالرحمان بابا عرفانی – تصوفي مکتب او د حمید او شیدا د نازکخیالۍ ادبي مکتب) په یوه اثر کې معرفي شي، د ایجاد عوامل یې وڅېړل شي، د ځانګړنو او خصوصیاتو په اړه یې هر اړخیزه څېړنه وشي، د سبک او مکتب توپیر په کې جوت شي، د هر ادبي مکتب فکري وحدت او هماهنګي د اشعارو د پرتلیز جاج له مخې ترسره شي، نو د همدې تشې(خالیګاه) د ډکولو لپاره دا موضوع ما ته د یوې علمي پروژې په توګه راوسپارل شوه، ما هم له پخوانیو او نوو تر لاسه

شویو آثارو څخه په استفادې دا پروژه بشپړه کړه.

زیاتره ژبپوهان په دې عقیده دي چې ژبه یو وار نه ده پیدا شوې او نه د ژبې جوړښت او رغونه د یو سړي کار بلل کېدای شي، بلکې انسانانو د هغه انگلیسي متل پر بنسټ چې «احتیاج د ایجاد مور ده» د خپل ضرورت او اړتیا په تناسب ورو ورو خپلې ژبې ته پرمختګ ورکړی دی.

د لرغونو انسانانو د افادې په ډول که څه اساسي اختلاف نه و موجود، خو کله چې له لومړنۍ مرحلې څخه ووتل او نسبتاً متمدن شول د دوی په ژبه کې هم د لفظ او تعبیر ساحه پراخه شوه، د یو مطلب څرګندول چې پخوا به د محدودو الفاظو په قالب کې افاده کېدل اوس هغه مطلب څرګندونه په بېلابېلو ډولونو سره ممکنه شوه او د سبک تاریخ هم له دې ځایه بېلېږي.

کومه ژبه چې په لومړي سر کې یواځې د پوهولو او راپوهولو وسیله بلل کېده، د هغې استعمال د تحریک او اغېز لپاره هم رواج وموند، دلته ژبه د ژبې په حیث نه، بلکې د یو لطیف فن په ډول استعمال شوه، نو دې ته چې هغه ځانګړی او ممتاز فکر چې د ښکلو الفاظو په قالب کې افاده شوی، سبک وبلل شو.

که وغواړو د ادبي سبک په تېره بیا د پښتو ادبي سبک په تاریخي پس منظر وغږېږو، په افغانستان کې د سبک پېژندنې په اړه عبدالحی حبیبي لومړنی سړی و چې په ۱۳۱۴ ل کال د طلوع افغان په(۹) ګڼه کې د (تاریخچه شعر پښتو) په لړ کې د سبک په اړه خپل نظر څرګند کړ. بیا یې چې د ۱۳۱۹ ل کال په کابل کالنۍ کې د « سبکهای اشعار پښتو» رساله خپره کړه، د سبک په اړه یې نسبتاً مفصلې خبرې وکړې، وروسته یې په ۱۳۲۰ ل کال د پښتانه شعراء په لومړي ټوک کې هم د سبک په اړه ځینې څرګندونې وکړې چې د ټولو څېړنو سرچینه د علامه حبیبي همدغه آثار و چې د هغه مهال د شرایطو پر بنسټ یو ادبي شهکار بلل کېدای شي.

همدارنګه د ادبي مکتب په اړه هم په ابتدایي بڼه د ځینو لیکنو په ترڅ کې لنډې یادونې شوي دي، خو استاد صدیق ا لله رښتین په ۱۳٦۲ ل کال د ( پښتو ادبي مکتبونه) تر سرلیک لاندې په کوچنۍ کچه او صحافت په(۱۵٦) مخونو کې یو اثر چاپ کړ. که څه هم په دې اثر کې څېړنیز اصول نه دي مراعات شوي، خو بیا هم د یوه باوري اخځ په توګه د استفادې وړ دی

### د پښتو ادبیاتو تاریخ(لرغوني او منځنۍ دورې):

د څېړنپوه زلمي هېوادمل اثر دی چې په ۱۳۷۹ ل کال د دانش خپرندویه ټولنې له

خوا چاپ شوی دی چې ۲۷۸ مخونه لري.

تر یادښت او سریزې وروسته د کتاب په ۸۷ مخ کې روښانیان او پښتو ادب او د هغوی په پرمختیایي بهیر د روښانیانو هڅې او د هغوی ادبي پېر ته بشپړه کتنه شوې ده. بیا پر اخوند درویزه او په پیروانو یې اوږد بحث شوی دی. پر خوشحال خټک او د هغه پر پیروانو او د هغه پر ادبي مکتب او ځانګړتیاوو هم په دې کتاب کې بحث شوی دی. پر دې سربېره د عبدالرحمان بابا او د هغه د پیروانو ادبي جریان ته هم کتنه شوې ده.

په دې اثر کې په پښتو ادب د هندي سبک اغېزې هم تر بحث لاندې نیول شوي دي او پوره معلومات په کې خوندي شوي دي. دغه اثر نوي څېړنیز مواد وړاندې کوي چې ما هم د خپل اثر په بشپړولو کې ترې پوره ګټه اخیستې ده.

## د خوشحال خټک سبک او په پښتو ادب د دغه سبک اغېزې:

د عبدالواجد واجد اثر دی چې په ۱۳۸۳ ل کال کې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز له خوا په ۲۰۸ مخونو کې د پنځه سوه ټوکونو په شمېر چاپ شوی دی.د کتاب موضوعات په پنځو څپرکو کې داسې ترتیب او اوډل شوي دي:

په لومړي څپرکي کې د سبک په پیدایښت او تاریخي پس منظر هر اړخیزه څېړنه شوې ده. په دوهم څپرکي کې د سبک په کلمې په مفصله توګه څېړنه شوې ده او په ترخ کې یې د ادبي مکتب، ادبي سبک او ادبي میتود توپیرونه روښانه کړي او د کارولو ځایونه یې هم ښودلي دي.

په دریم څپرکي کې په پښتو او دري شعر او نثر کې د خوشحال خان د سبک ځانګړنې څېړل شوې دي. په څلورم څپرکي کې لیکوال په پښتو ادب باندې د خوشحال د سبک په اغېزې باندې خبرې کړې دي. په پنځم څپرکي کې د خوشحال خان خټک د ادبي سبک په پیروانو خبرې شوې دي. وروسته بیا نتیجه او د اخځلیکونو لیکلړ راغلی دی.

د یادونې وړه ده چې لیکوال په پنځم څپرکي کې د دوکتور عارف عثمان د (خوشحال خټک او د ده ادبي مکتب) په پیروۍ علي خان، کاظم خان شیدا او کامګار خټک چې د عبدالحمید مومند د ادبي مکتب پیروان دي د خوشحال خان د ادبي مکتب پیرو بللي دي؛ خو د اشعارو د پرتلنې په ترخ کې دا ثابته شوې ده چې دوی له حمید مومند څخه د ژورې اغېزې منلو په پایله کې خپل شعرونه ویلي او همغږي یې څرګنده ده. همدارنګه کوم فکر، مفکوره او د بیان ډول چې د شاعر یا لیکوال په آثارو کې په زیاته اندازه ځان څرګند کړي، دا برخه په سبکي ځانګړنه کې شمېرل کېږي. په دې اثر کې هغو ټکو ته اشاره نه ده شوې چې د هغې پر بنسټ د خوشحال خان او د هغه د پیروانو سبکي

ځانګړنې وپېژندل شي، خو له دې ټولو خبرو سره سره د ستاینې وړ اثر دی چې ما ترې د پروژې په څلورم څپرکي کې ګټه پورته کړې ده.

## د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره:

د پوهاند دوکتور زېور الدین زېور اثر دی چې په ۱۳۸٦ ل کال د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز له خوا په ۳۳۸ مخونو کې چاپ شوی دی.

دغه اثر په دوو برخو او بیا هره برخه په بېلابېلو سرلیکونو وېشل شوې ده، لومړۍ برخه د پښتنو پر سیاسي، اجتماعي او اقتصادي مسألو باندې د مغولو د راتګ پر اغېزو پیلېږي، بیا د دې ادبي نهضت د بنسټګر بایزید روښان پر ژوند، آثارو او افکارو مفصله رڼا اچوي.ورپسې د ده د ادبي لارې پیروان لکه: ارزاني، میرزاخان انصاري، دولت لواڼي، علي محمد مخلص، واصل، قادرداد، کریمداد بنګښ پر ژوند، آثارو او د شعرونو پر ځانګړنو بحث کوي.

په دوهمه برخه کې د پښتو ادبیاتو کلاسیکه دوره په لنډه توګه راپېژني، ورپسې د خوشحال خان خټک،عبدالرحمان بابا، عبدالحمید مومند او کاظم خان شیدا د ژوند په بېلابېلو اړخونو او آثارو غږېږي او بیا په ترتیب سره د دوی پیاوړي استازي راپېژني.

په ټولیز ډول دغه بحث د پښتو ادب پرمختیایي بهیر راڅرګندوي که څه هم استاد زېور دغه کتاب د تدریس په موخه لیکلی؛ خو نیمګړتیا یې دا ده چې د زده کوونکو لپاره یې پوښتنې او د موضوع لنډیز په پام کې نه دي نیولي؛ خو له دې سره سره دا کتاب بیا هم په ادبیاتو کې د یوه ماخذ په توګه ارزښت لري. ما هم د پروژې په بېلابېلو څپرکو کې ترې ګټه اخیستې ده.

## د شیدا او حنان پرتلیز جاج:

د ډاکټر لیاقت تابان لیکلی اثر دی چې په ۱۳۸٦ ل کال د ملګري لیکوال کوټې له خوا د پنځه سوو ټوکونو په شمېر په ٦۰۷ مخونو کې چاپ او خپور شوی دی.

د نوموړي اثر سرلیکونه دا دي: ادبي سبکونه، د کاظم خان شیدا او حنان بارکزي ژوند او شخصیت، شیدا او حنان د زلفو په ایسار کې، سترګې د شیدا او حنان په نظر، جمالیاتي اړخونه، د حنان په کلام کې اسلامي اصطلاحات، د شیدا په کلام کې د حباب ازانګې، د خط ذکر د ځینو حقایقو په رڼا کې ټولنیز اړخونه، پر شیدا او حنان د حمید بابا اثر، د شیدا او حنان د کلام کمزوري اړخونه.

دا اثر د کلاسیکې دورې د نازکخیاله شاعرانو کاظم خان شیدا او حنان بارکزي، د پرتلنې په اړه ډېر ګټور معلومات لري چې د کلاسیکې دورې د پښتو ادبي مکتبونو له

بشپړتیا سره ښه مرسته کولای شي.

د یادونې وړ ده چې د اثر په موضوعي اوډنه کې لازمه پاملرنه نه ده شوې، خو تحلیلي او تشرېحي اړخونه یې پیاوړي دي. د لیکلو پر وخت یې د څېړنې معیارونه په پام کې نه دي نیولي. په دې اثر کې له۳۸۴ څخه تر ۴۵۴ پورې د ارواپوهنې یو ډېر اوږد بحث راغلی چې د اثر له موضوع سره زیات تړاو نه لري. سره له دې چې اثر څېړنیزه بڼه لري؛ خو پایله نه لري چې د څېړنیز اثر اساسي برخه جوړوي.کتاب د اخځلیکونو په لیکلړ پای ته رسېږي. ما د دې اثر له بېلابېلو برخو څخه د خپلې پروژې په شپږم څپرکي کې ګټه پورته کړې ده.

## د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څېړه:

د ښاغلي محمد اکبر کرګر اثر دی چې په ۱۳۸۹ ل کال د دانش خپرندویې ټولنې له خوا د زرو ټوکو په شمېر په ۲۷۲ مخونو کې دریم ځل چاپ او خپور شوی دی.

د کتاب په دې نوي چاپ کې یواځې یوه موضوع په پای کې د ضمیمې په توګه ورزیاته شوې ده، هغه هم د بایزید روښان د محاکمې په اړه یوه مهمه څېړنه ده چې د کتاب ارزښت لا زیاتوي.

د کاندید اکاډیمیسن محمد صدیق روهي او څېړنپوه زلمي هېوادمل تر تقریظونو وروسته دغه علمي – څېړنیز اثر په پنځو څپرکو کې په دې ډول ترتیب شوی دی:

په لومړي څپرکي کې د بایزید روښان د وخت د فرهنګي حالاتو تر کتنې وروسته ټولنیز، فکري او رواني حالات، د بایزید روښان لنډه پېژندنه، زوکړه او د ژوند پړاوونه یې راغلي دي.

په دوهم څپرکي کې بایزید روښان د خپلو فلسفي او عرفاني افکارو په ابعادو کې تر سرلیک لاندې په دغو څنګزنو سرلیکونو وېشل شوی دی: د حالنامې پېژندنه، په حالنامه او دبستان مذاهب کې د بایزید روښان د عقایدو جاج، د بایزید روښان د شخصیت رواني او انفسي اړخ، د لویدېځې فلسفې او شرقي تصوف په رڼا کې د بایزید روښان مقام. په دریم څپرکي کې له اسماعلیه افکارو سره د روښاني فکري جریان مقایسوي څېړنه او پر روښاني غورځنګ د اسماعیلي افکارو پر اغېزو مفصل علمي او څېړنیز بحث شوی دی. په څلورم څپرکي کې د پیر روښان د عقایدو په رڼا کې پر تناسخ او حلول ژوره کتنه شوې ده چې د روښانیانو د فکري بهیر په تحلیل او څېړنه کې ګټوره او مهمه موضوع ګڼل کېږي.

په پنځم څپرکي کې د پښتنو پر فرهنګ د روښانیانو اغېزې د دغه اثر یو بل ګټور بحث دی چې تر بېلابېلو څنګزنو سرلیکونو لاندې موضوعات په کې څېړل شوي دي.

وروسته بیا نتېجه او د اخځلیکونو لیکلړ راغلی دی. دغه اثر د روښانیانو په اړه نوي څېړنیز مواد وړاندې کوي چې په دې اړه ګټور اثر ګڼل کېدای شي چې ما هم د خپل اثر په دریم څپرکي کې له دې کتاب څخه استفاده کړې ده.

## د حمید او شمس الدین پرتلیز جاج:

د ښاغلي دوکتور لیاقت تابان اثر دی چې په ۱۳۹۰ ل کال د ملګري لیکوال کوټې له خوا په ښکلي قطع او صحافت په ٦٦٢ مخونو کې چاپ شوی دی.

په دې کتاب کې دغه مطالب راغلي دي، هندي سبک او کندهارۍ مکتب، د عبدالحمید مومند او شمس الدین کاکړ ژوند او شخصیت او ادبي آثار، علم بدیع او علم بیان، د حمید او شمس الدین کاکړ په کلام کې متلونه او محاورې، د حمید او شمس الدین په کلام کې د نورو ژبو کارونه، د تصوف خاوندان، سوچه تیوري او نیولوګیزم.

باید وویل شي چې ښاغلي ډاکتر لیاقت تابان چې د حمید او شمس الدین کاکړ کوم پرتلیز جاج ترسره کړی دی، زیات موزون نه برېښي، ځکه شمس الدین کاکړ خپل شعري الفاظ او فکر ډېر لېږ لري. که د دې پر ځای یې د حمید او پیرمحمد کاکړ پرتلنه کړې وای ډېره به مطلوبه وای، ځکه دواړه همفکره شاعران دي چې دا پرتلنه په ډېره موزونه توګه استاد محمد صدیق پسرلي هم په خپلې یوې په زړه پورې مقالې کې ترسره کړې ده چې د خیال او مضمون همرنګي په کې له ورایه څرګنده ده.

که د کتاب له اضافي بحثونو څخه تېر شو، په نوموړي اثر کې زیات ارزښتناک مطالب هم تر سترګو کېږي چې ما هم د خپلې پروژې په شپږم څپرکي کې ترې ګټه پورته کړې ده.

## د ادبپوهنې څانګې:

دا د څېړنپوه سید محی الدین هاشمي اثر دی چې د میهن خپرندویې ټولنې له خوا پر ۱۳۹۳ ل کال په ۷۳۳ مخونو کې د زرو ټوکو په شمېر په ښکلي قطع او صحافت د چاپ په ګاڼه سینګار شوی دی.

کتاب ټول شپږ څپرکي لري چې د ادبپوهنې د بنسټیزو څانګو پېژندنه او په پښتو ژبه او ادب کې د هرې څانګې د پیدایښت او پایښت د پرمختیایي بهیر څېړنې ته ځانګړې شوي دي. په دې اثر کې په ټولیز ډول د ادبپوهنې د لغوي او صطلاحي معنا پر روښانولو او څېړلو سربېره د ادبپوهنې د وېش مسأله هم مطرح شوې چې لیکوال په عمومي توګه د

ادبپوهنې په اصلي او فرعي څانگو رڼا اچولې ده. د ادبي تیورۍ په بحث کې چې د ادبپوهنې اساسي څانگه ده د ادبي تیورۍ د لغوي او اصطلاحي معناوو پر څرگندولو سربېره ادبي تیوري د یو علم په حیث څېړل شوې ده. ورپسې د ادبي تیورۍ د جوړښت ستونزه، د ادبي سبک او ادبي مکتب د جوړښت او پایښت مسأله او نورې موضوعگانې تر جلا جلا څنگیزو سرلیکونو لاندې څېړل شوې دي، په دې پسې په ادبي تاریخ او ادبي کره کتنې (نقد) پورې اړوندې موضوعگانې تر بحث لاندې نیول شوي دي. په حقیقت کې دغه کتاب په پښتو ژبه او ادبیاتو کې داسې څانگړی اثر دی چې د ادبپوهنې د بېلابېلو څانگو او په هغو پورې اړوند مسایل په کې په علمي او اکاډمیکه توگه څېړل شوي دي. ما هم د خپلې پروژې په ځینو برخو کې د یو باوري اخځ په توگه ترې گټه پورته کړې ده.

**د عبدالرحمان بابا فکري مکتب:**

د ډاکټر محمد زبیر حسرت اثر دی، د پښتونخوا د مطالعاتي مرکز له خوا په ۲۷۱ مخونو کې په ۲۰۱۳ م کال کې د پښتونخوا کتابتون خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی. په دې علمي او څېړنیز اثر کې دغه مطالب راغلي دي. د رحمان د شعر کوکې په عالم دي، د رحمان تر قلم مښک او عنبر وري، د عبدالرحمان بابا شاعري اسلوب او مکتب د عبدالرحمان بابا فکري مکتب، عبدالحمید مومند، عبدالقادر خان خټک، صدیق خټک، علي خان مامنزی، محمدی صاحبزاده، معزالله خان مومند، اخون گدا، حافظ الپوری، یونس، خواجه محمد بنگښ، میا نعیم متي زی، مصري خان گگیاڼی، میرزاحنان بارکزی، مهین خلیل، نجیب، عبدالعظیم رانیزی، قاسم علي اپریدی، پیر محمد کاکړ، احمد شاه ابدالي، قنبر علي خان اورکزی، ابوالقاسم، نواب محبت خان، میر علي میرا، شاد محمد خان او قادرداد.

د یادونې وړ ده چې دا کتاب د خپل گټورتوب تر څنگ ځینې تېروتنې هم لري چې باید خبرې پرې وشي، د بېلگې په توگه د کتاب په بېلابېلو مخونو کې عبدالحمید مومند، عبدالقادر خان خټک، علي خان، محمدي صاحبزاده، میرزا حنان بارکزی او داسې نور د بېلابېلو مکتبونو پیروان د عبدالرحمان بابا د فکري مکتب تابع بولي.

په داسې حال کې چې حمید مومند د خپلو معاصرو او مخکښو شاعرانو په لاره

تگ ونه کړ او د هندي مکتب نوو هنري نازکخیالیو د ده پاملرنه ځانته راواړوله او په پښتو کې د نازکخیالۍ د ادبي مکتب مؤسس وګڼل شو. همدارازعبدالقادر خان خټک د عبدالرحمان بابا د مکتب پیرو نه، بلکې د خپل پلار خوشحال خان د مکتب شاګرد پاتې شوی دی.

همدارنګه علي خان، محمدي صاحبزاده، میرزا حنان بارکزی دا هم د عبدالحمید مومند د مکتب په پیروانو کې ولاړ کسان دي.

پوهاند صدیق الله رښتین په (پښتو ادبي مکتبونو) او څېړنپوه زلمي هېوادمل (د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍ دورې) کې په ډېره دقیقه توګه د کلاسیکې دورې د هغو مخکښو ادبي څېرو د یادونو په ترڅ کې د علمي لاسوندونو په وړاندې کولو د هغو د مکتب پیروان معرفي کړي دي.

د یادونې وړه ده چې که څه هم زیاتره شاعرانو د یو بل سره په ورته قافیو او ردیفونو کې محدود شعرونه ویلي دي؛ خو دا د دې دلیل نه شي کېدای چې نوموړي د دوی پیرو وبولو. په پایله کې د یادونې وړ بولو چې په دې اثر کې د عبدالرحمان بابا د فکري مکتب زیات اړخونه څېړل شوي دي چې ځینې ناموزون دي. ما هم د پروژې په پنځم څپرکې کې ترې ګټه پورته کړې ده.

## د پښتو ادب په پرمختیایي بهیر د روښاني غورځنګ اغېزې:

د څېړنپوه محمد عارف غروال اثر دی چې په ۱۳۹۴ ل کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د (۵۰۰) ټوکو په شمېر په ۳۳۸ مخونو کې په صدف مطبعه کې چاپ شوی دی.

دغه علمي څېړنیز اثر د لارښود استاد تر نظر او له څلورو تقریظونو او سریزې وروسته په پنځو څپرکو کې داسې ترتیب شوی دی:

لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانګړی شوی دی چې په ترڅ کې یې هغه شمېر آثار راپېژني چې د روښاني غورځنګ په اړه او یا په ځنګیزه توګه یادونې او څرګندونې لري.

د اثر دوهم څپرکی د روښاني غورځنګ د پیدایښت او پایښت څرنګوالي ته ځانګړی شوی دی چې په ترڅ کې یې د دې غورځنګ د منځته راتګ سیاسي، فرهنګي

او ټولنيز عوامل څېړل شوي دي.

په دريم څپرکي کې ليکوال د پير روښان ادبي تصوفي مکتب د پښتو ادب د دوهمې تاريخي دورې د پيلامې بنسټ تر سرليک لاندې بشپړ کړی دی. وروسته يې د ادبي مکتب لغوي او اصطلاحي پېژندنې رااخيستي. د سبک او مکتب پر توپيرونو هم مفصل بحث لري. همدارنگه يې د پښتو د ادبي مکتبونو د وېش پر څرنگوالي باندې هم خبرې کړي دي. تر دې وروسته يې د روښاني ادبي، تصوفي، عرفاني مکتب پر ځانگړنو هر اړخيزې څرگندونې کړې دي.

په څلورم څپرکي کې د پير روښان پر ژوند، آثارو، او افکارو څېړنه شوې ده او وروسته د ده د پياوړو لارويانو لکه: ارزاني خوېشکی، واصل روښاني، ميرزاخان انصاري، کريمداد بنگښ، علي محمد مخلص، دولت لواڼي او نورو په ژوند او آثارو په تفصيل سره بحثونه شوي دي. په همدې څپرکي کې د روښانيانو پر مخالفينو اخوند درويزه او د هغه د پيروانو په فرهنگي هلو ځلو هم رڼا اچول شوې ده چې د همدغو مخالفتونو په پايله کې د پښتو ادب پرمختيايي بهير ته زياته گټه رسېدلې ده.

پنځم څپرکی دوه برخې لري چې په الف برخه کې د کورنيو پوهانو له نظره او په ب برخه کې د بهرنيو پوهانو له نظره دا غورځنگ څېړل شوی دی چې ما هم د خپلې پروژې په دريم څپرکي کې ترې گټه اخيستې ده.